# زېرې

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

پنجشنبه (۷- ۸ مه) ګڼه، دریيمه دوره، پرله‌پسې (۳۹۹- ۴۰۰مه) ګڼه، د ۱۴۰۱ل.کال د چنګاښ (سرطان) مياشتې ۳۰مه، د ۱۴۴۳هـ.ق. کال د ذي الحجې د مياشتې ۲۱مه او د ۲۰۲۲ز.کال د جولای ۲۱مه


ناست يم په خلوت کې يو ملنګ د زمانې يم

غلی غلی غلی له غوغا سره غربږم

---

**پيرمحمد «کاروان»**

## سرليکنه

## د ژبې بډاينه ولې مهمه ده!؟

د هر قوم وګړي ځانته ژبه لري، چې د ژوند غوښتنې، راکړه ورکړه او د افهام او تفهيم بهير له همدې لارې ترلاسه کوي.

په اوسنۍ زمانه کې هر ټبر په همدې لټه کې دی چې خپله ژبه په سياسي، ټولنيز او اقتصادي لحاظ بډايه او په دولتي— اداري چارو او زدکړه نيز نظام په بهير کې يې عامه کړي تر څو له همدې لارې خپل نَسبي او تاريخي هويت خوندي وساتي.

دا کړنه د دې لپاره نه کېږي چې څوک دې له نورو ژبو سره د تعصب له مخې خپلې ژبې ته لومړيتوب ورکړي، بلکې دا يو ټولنيز حق او د ژبې د پرمختګ فطري / علمي غوښتنه ده چې له ورکېدلو وژغورل شي، ليکنې او څېړنې په کې ترسره شي، له نورو ژبو څخه مهم او اړين موضوعات پکې راوژباړل شي او د خپلې ژبې مهم مسايل نورو ژبو ته د ژباړې له لارې ور ولېږدول شي.

سربېره پر دې چې د ژبې ماهيت وساتل شي اړينه چې د هېواد توليدي صادرات په پښتو ونومول شي او په اړه يې معلوماتي ليکنې په پښتو ليکدود راوړل شي. په دې کار سره له يوې خوا پښتو ژبه نورو ټولنو ته لار پيدا کوي او له بل خوا يې د نوو کلمو او لغتونو زېرمه هم ورځ تر بلې پياوړې کېږي.

د دې لپاره چې خپله ژبه وپالو، پرې ليکل او لوستل هم ډېر مهم دي، د دې لپاره چې پښتو ووايو، اړينه ده چې پښتو کتابونه او آثار وليکو او د مطالعې دود عام کړو؛ نو له ليکوالو او څېړونکو غوښتنه کېږي چې په پوره زغم او ويار سره دې کار ته متې را بډوهي او خپله ژبه په هر اړخيزه توګه معيار ته ورسوي.

سره له دې چې د افغانستان اسلامي امارت د خپلې فرهنګپالې کړنلارې او تګلارې له مخې ژمن دی چې د هېواد د علمي او اکاډميکو بنسټونو د معيارونو د لوړاوي او پرمختيا لارې چارې برابرې کړي؛ د هېواد د ژبو او ادبياتو د پرمختګ او بډاينې لپاره هم ځانګړې پاملرنه لري.

د يوې ژبې او د هغې ژبې د ادبياتو د ودې او بډاينې يو راز په دې کې نغښتی دی چې ليکوال، څېړونکي، ژباړونکي او پنځوونکي يې په ډېره علاقه مندی سره په خپلو اړوند مسلکي برخو کې لومړی مطالعه او بيا د وخت او حالاتو غوښتنو او پوښتنو ته ځواب ويونکې کره ليکنې وکړي، چې له يوې خوا يې پرې د ژبې او ادب پانګه بډايه او شتمنه شي او له بلې خوا به يې د هېواد او ټولنې په وړاندې خپل علمي - فرهنګي رسالت او مسؤليت په ښه توګه ترسره کړی وي. / په همدې هيله

(د زېرې اداره)

**پوهنوال دکتور اجمل ښکلی**

## غير رسمي ژبه

د ژورناليزم ځينې ژانرونه او دولتي مکتوبونه د پلوی له امله په رسمي ژبه ليکل کېږي، خو په افغانستان کې رسميات دومره ډېر دي چې نارسمي ليکنې هم په رسمي ژبه ليکل کېږي. د... رسمي ليکنو رسمي مجبوری وي، چې نارسمي ليکنې ورته اړې نه دي.

د سوچه ژبې او کرکېچو ژبې پلوي ليکوال ډېر دي، خو د ولسي ژبې به پکې يو هم پيدا نه کړې، ځکه چې نارسمي يا ولسي- ژبه ولسيتوب او د ولس په ژبه پوهېدا غواړي او زموږ ليکوال دومره خوار نه دي چې د پلازمېنو له انحصاره بهر ولس ته ورشي يا په ولسي ژبه کې فکر وکړي.

جدي موضوع چې په نارسمي ژبه وليکل شي، طنز زېږوي. موږ که يوه خبره بابېزه ګڼو يا پرې داسې نيوکه کوو چې د خلکو له شره په امان شو، نو طنز کاروو ، ځکه چې ستغه خبره په ټوکو کې په سرۍ بده نه لګي. د طنز يوه وسيله نارسمي ژبه يا سبک هم دی. د همدغسې پيلتيا يا طنز له لاسه ليکوال له نارسمي ژبې ډېډه کوي او اېغ نېغ درته لګيا وي.

پر دغو اړخونو سربېره نارسمي ژبه د دقت، پرېکنتيا، ښکلا، خوړلت اغېز او ... لپاره هم کارېږي او څرنګه چې ولسي ژبه ډېره دقيقه او پرېکنده وي، نو د نارسمي سبک لويه برخه ولسي ژبه رانغاړي چې زموږ رسنۍ ترې بې برخې دي، ځکه چې په افغانستان کې ليکوال ولسي ژبې ته د بازاري ژبې په سترګه ګوري.

علمي ليکنې هم د دقت، ښکلا او اغېز په موخه د نارسمي يا ولسي ژبې جامه اغوستی شي. مثلا: د کره کتونکي پر ځانګړنو خبرې کوو:

۱.کره کتونکی دې د بوسو لاندې اوبه نه بيايي، ګڼې څوک به يې په خوله تريخ پياز هم ونه خوري.

موضوع علمي ده، خو په دوو غير رسمي جملو کې وړاندې شوې، چې مخاطب ډېر متوجه کولی شي.په نارسمي ژبه کې پخپله د ولسي ژبې کلمې، عاميانه تلفظونه يې، ګړنې يا اصطلاحات، متلونه او د جملو ترتيب راځي.

په ليکنو کې د معيار د ساتلو لپاره خو ضرور ده چې موږ د کلمو منلې بڼه وکاروو، خو بيا هم کله ناکله يې د عاميانه تلفظ د ليکلو اړتيا احساسېږي، نو دا څه کفر نه دی چې سړی د ضرورت له مخې (کفن) ته (کپن) وليکي.

۳مخ

**څېړنپوه مولاجان تڼيوال**

## نړۍ والې ژبې

د ټولنې د پرمختګ په هر پړاو کې ژبې د پوهولو را پوهولو د يوې وسيلې په توګه خدمت کړی دی لا په هغه وخت کې چې انسانانو په محدودو ټولنو کې ژوند کاوه، د پوهېدو اړتياوې د يوې غريبې او نا پرمختللې ژبې په واسطه ترسره کېدې. د ټولنې او فکر د پرمختګ سره يو ځای ژبې هم پرمختګ وکړ.

د ټولنې د پرمختګ د پايلې په توګه د هغو انسانانو تر منځ اړيکې چې په بېلابېلو ژبو خبرې کوي په پرله پسې ډول تلپاتې شوې. په بېلابېلو تاريخي پړاونو کې ځينې جوتې ژبې د هماغه ولس د سياسي، اقتصادي او کلتوري غوړېدا په واسطه نوره هم پسې پراخې شوې، موږ کولای شو چې د Altertum (۱) د انساني کلتور ډېر ځنډن وخت، (۲) د يونانيانو او روميانو اوږده زمانه يا وخت د ۷۰۰ ق م څخه تر ۴۸۰ ميلادي پورې.) څخه زموږ تر ورځو (وخت) پورې د ځينو هغو ژبو پراختيا چې د دوی د ويونکو ولسونو د لوړتيا د چانس له امله رامنځته شوې ده، د دوی د پولو څخه د باندې هم وڅارو.

په Altertum کې يوناني او لاتين داسې ژبې وې چې خورا پراخې وې. يوناني ژبې تر هر څه لومړی د کلونياليزم په ذريعه د مديترانې بحيرې په سواحلو کې خپل ځان ته پراختيا ورکړه په را وروسته کې د مقدونې سکندر نه وروسته يوناني ژبه د هند څخه تر اسپانيې پورې وغځېده، حتی د مقدونيې د سياسي تسلط د بايلنې نه وروسته هم يوناني ژبې د اوږده وخت لپاره خپل ځان د يوناني کلتور د prestige (فرانسوی کلمه ده) په وسيله وساته.

په لاتين ژبه باندې په پيل کې په ډېر محدود چوکاټ کې خبرې کېدې او تر ټولو مخکې په ايټاليا کې د ننه پراخه شوه او له هغه وروسته يې د روميانو د فتحو او لاسته راوړنو په واسطه د يورپ په لويديځ او ختيځ کې پراختيا وکړه، په پنځمه م پېړۍ کې د روميانو د قوت کمزورېدل پيل شول لاتين ژبه په پرله پسې ډول په متفاوته بڼه په ډېره ستره ساحه کې تغييرېده او په هر ولايت کې متفاوت پرمختګ روماني ژبې منځ ته راوړې.

د لاتين ژبې څخه تر نولسمې پېړۍ پورې د پوهانو د ژبې په توګه ګټه واخيستل شوه، تر هر څه د مخه يې د مديترانې د بحيرې په سواحلو کې د ځانګړې prestige څخه ګټنه وکړه. په لويديځه اروپا کې د لاتين د ارزښت غوندې ګټه په منځنيو پېړيو کې عربي ژبې هم په منځنۍ ختيځ، Osten لرې ختيځ او همدارنګه په شمالي افريقا او د ايبرې په ټاپو وزمه کې وکړه. د عربو د سياسي، اقتصادي او کلتوري پياوړتيا په پايله کې عربي ژبې د هغو ولسونو په ژبو باندې اغېزه وکړه چې د دوی سره يې ډول ډول اړيکې درلودې لکه (پارسي، اسپانوي، ترکي او داسې نورې ژبې...).

د Renaissance رنسانس سره غبرګ د اسپانويانو د فتوحاتو په پايله کې اسپانوي ژبه په شپاړسمه پېړۍ کې د اسپانيې د کلونيال دولت په ستره برخه ( جنوبي او مرکزي امريکا، د شمالي امريکا په جنوبي خوا او د پاسفيک په يو شمېر ټاپوګانو او نورو ځايونو کې) خپل ځان ځای کړ.

فرانسوي ژبه په اووه لسمه پېړۍ کې د سياسي - اقتصادي قوت پر بنسټ خو تر ټولو مخکې د فرانسوي تمدن او کلتور په وسيله د نړۍ وال پوهاوي را پوهاوي د ژبې په توګه ومنل شوه. په ټوله کې په ډېرو هېوادونو کې فرانسوي ژبه د اريستوکراتيکو سالونونو او کلتور ژبه وه. د فرانسوي ژبې په ذريعه په اتلسمه پېړۍ کې د روښانونکو ډېر ستر نظريات او د ۱۷۸۹ م کال انقلابي نظريات پسې پراخه شول. فرانسوي ژبې که څه هم د نولسمې پېړۍ په پای کې د فرانسې د دولت د کمزورې Position په وجه خپل اهميت د لاسه ورکړ، سربېره پر دې نن ورځ د روسي او انګريزي ژبو په څنګ کې د ديپلوماټانو د ژبې په توګه کارول کېږي. فرانسوي ژبه په ډېرو هېوادونو کې د يوه ډېر ستر کلتور د ژبې په توګه

۲مخ

**محمد عليم بسمل**

## د انس (ح) په يوه غزل لنډه تبصره

څوک له شعر سره مينه لري، هغه په ټولنه او چاپېريال کې هم مينه ناک وي، او څوک چې له شعر او ادب سره مينه نلري هغه ته پام وکړئ په ژوند کې به هم بې مينې وي.

د اځکه چې شعر هم ښکلا ده، ښکلا د اعضاوو تناسب ته ويل کيږي، په شعر کې هم د الفاظو تناسب وي، لفظ له لفظ سره، د يو بيت له بل بيت سره د رديف او قافيې مناسبت. بديعي صنعتونو؛ لکه: تشبيهات او داسې نور داهر څه ښکلاده. په شعر کې روان والی هم ښکلا ده. شعر چې څومره روان وي لذت يې هم همدومره زيات وي. د شعر روان والی په لوستلو او اورېدلو کې سړي ته احساسيږي. خو ځينې شعرونه دومره روان وي چې سړي ته مجسم غوندې شي داسې احساسيږي لکه چې ورته ګورې او روان والی په سترګو ويني د انس يو غزل همدومره روان دی چې مطلع يې ولولې له ځان سره دې روانوي اود مقطع ترډېوال دې رسوي.

د غزل په دوو بيتونو يوه ځانګړې تبصره هم لرم خو لومړی د غزل روان والی وګورئ:

غزل

هېر شوو، افسانې شوو، د عالم له نظر واوښتو
موږ هم ډک جامونه وو، خالي شوو په سر واوښتو
چا ويل چې حسين به په سرو وينو کې لت پت نه کړي
دا معقوله نه ده چې نظر د شمر واوښتو
دوی مو نابودی ته چې تر ټولو پولو واوښتل
موږ بيا له سرحد د حوصلې څخه ور واوښتو
ګام په ګام دامونه د حسد و د خدای فضل و
موږ په کرامت د مينې څه په هنر واوښتو
هر څه اندازه لري سږ زده دي له بارانه کړل
خير و، چې ډېر شو، نو سيلاب شو په شر واوښتو
تور تياره بيابان کې له انسه لاره ورکه وه
نن اېله د يار د ښکلو پلو په اثر واوښتو

د ژان پل سارتر داخبره مې هيڅ زړه ته نه لوېږي چې وايي: شعر د مجسمې په څير يو هنر دی سار تر زياتوي چې هر لفظ يو مدلول لري خو د شعر حروف او کلمات دال او مدلول نلري، خوکله چې داسې يو بيت ولولم چې يوازې د ښکلو کلماتو له امله په زړه خوله لګوي د سارتر خبره مې زړه ته ولوېږي لکه:

دوی مو نابودی ته چې تر ټولو پولو واوښتل
موږ بيا له سرحد د حوصلې څخه ور واوښتو

د دې بيت ښکلا د (ور) په قافيه کې ده او دا بيت لکه يو مجسمه يا تابلو داسې ښکارېږي؛ لکه انځور ګر چې په دېوال باندې د يو چا ور اوښتل داسې انځور کړي وي چې هېڅ دې د انځور خيال وړباندې رانشي او داسې فکر کوې لکه دغه صحنه چې په سترګو وينې. د معنا او مضمون له پولو ور ها خوا دا قافيه څکه ښايسته ده چې د قافيې خيال دې نه پرې راځي او وار له مخه يې وړاندوينه هم نه شي کېدای. په بيت کې هغه قافيه چې د بيت د عمومي معنا د بار په اوچتولو کې برخه واخلي، کاميابه قافيه ده او د بيت طبيعي والی اثباتوي.

بل دا چې د دې شعر رديف فعل (واوښتو) دی چې په خورا بېلابېلو معناوو کارېدلی دی او دې شي د غزل هر بيت ته د انفرادي معنا ځانګړتيا او تنوع ايجاد کړې ده.

له دې بيته د خونده اخستلو پرمهال د تورو دال او مدلو ته توجه نه کيږي بلکې يواځې يې ظاهري جوړښت جالب دی.

د شاعر زور هلته معلومېږي چې کله عادي خبره را واخلي غير عادي يې کړي او شعر ترې جوړ کړي يو عادي شاعر چې د يوې سيمې وچ کالي وزن ته اچوي داسې به وايي چې خلک نزدې له تندې مړه شوو يا يو غړپ اوبه هم نه پيداکيږي؛ خو سعدي د دمشق وچکالي داسې انځوروي.

چنان خشک سالي شد در دمشق
که یاران فراموش کردند عشق

تېر کال ورښتونو او سيلابونو خلکو ته ډېر زيانونه ورسول کورونه يې ړنګ کړل، کښتونه يې خراب کړل خو داخبره په همدې بڼه عادي خبره ده، خو که داسې ووايو چې: هرشی چې ډېر شي ګنډېر شي، باران د الله رحمت دی خو چې کله ډېر شو سيلاب ترې جوړشو سيلاب وړانی وکړې او موږ په شر واوښتو.

هرڅه اندازه لري سږ، زده مو له بارانه کړل
خير و، چې ډېر شو، نو سېلاب شو، په شر واوښتو

د مقالې پای

**جاوېد افتاب**

## د خاطر اپريدي د کلياتو تدوين ته کتنه

خاطر اپريدی چې اصلي نوم يې مصري خان و، د اکبر خان زوی دی او په ۱۹۲۹م. کال کې په خيبر کې زېږېدلی دی. کوچنی ماشوم و چې د پلار له سيوري بې برخې شو او پالنه يې تره، حضرت خان او نيکه دوست خان ته ور پاتې شوه. نوموړي زده‌کړې نه وې کړې، لومړی يې کرګري او وروسته يې سوداګري کوله. اپريدی د پښتو معاصرې دورې غزلبول شاعر دی، خو شعري پختګی ته په رسېدو سره د نري رنځ يا تبرکلوز له امله د ۱۹٦۸م. کال د اګست په ۲۴مه وفات شو.

د خاطر اپريدي کليات نيازامين نياز اپريدي په ۱۹۹۸م. کال کې ترتيب او تدوين کړی او په ۲۰۰۴م. کال کې د پېښور يونيورسټي بک ايجنسی له‌خوا په ٦۰۳ مخونو کې چاپ شوی دی.

دغه کليات د خاطر د اصلي قلمي نسخې له مخې چې د هغه زوی جاويد اپريدي، نياز اپريدي ته سپارلې وه، ترتيب شوی دی. نياز اپريدی د خاطر کليوال او نږدې ملګری و، خپله هم شاعر و او د خاطر له شاعرۍ سره تر بل هر چا ډېر بلد او مينه‌وال يې و. نوموړی هم د خيبر سيمې مشهور شاعر تېر شوی او کليات هم لري.

د اپريدي د کتاب په پيل کې د حمزه شينواري لنډه تبصره راغلې ده، ياده تبصره په ۱۹۸۷م. کال کې؛ يعنې د خاطر له مرګه ۱۹ کاله وروسته او د کتاب له تدوينه ۱۱ کاله مخکې ليکل شوې ده. ورپسې په ترتيب سره د خاطر د أستاد (لعل زاده ناظر شينواري)، ډاکټر راج ولي شاه خټک، مراد شينواري، قيوم کوثر اپريدي او سلمی شاهين ليکنې او د جاويد خان اپريدي او د کلياتو د مدون نيازامين نياز سريزې راغلې دي.

لعل زاده ناظر شينواری د خاطر استاد او د شعرونو سمووونکی و، خاطر لومړنۍ زده‌کړې هم له دغه استاده کړې دي. ناظر وايي: »په خاطر کې د پوهې ډېر صلاحيت و، زما په قابل ذکر شاګردانو کې خاطر زما اول شاګرد دی .«(کليات: ۷مخ)

د خاطر د دغه کليات له چاپېدو مخکې هم ځينو ليکوالو د هغه دېوانونه او منتخب اشعار چاپ کړي؛ لکه »منزلونه «بريالي باجوړي، »ديوان خاطر« مقدرشاه او فضل ربي قيس، »ديوان خاطر «شېرشاه او نور.

ناظر شينواري، جاويد اپريدي او د کتاب مدون په خپلو ليکنو کې دا ټول دېوانونه نيمګړي بللي او وايي چې په يادو دېوانونو کې د ځينو نورو شاعرانو غزلونه خاطر ته منسوب شوي دي او د ځينو نيمګړو غزلونو بيتونه، ورپسې دوی خپله بشپړ کړي دي. د نمونې په ډول د مزار شينواري دا غزل راوړو:

يو عشق و نوی نوی په خوږو نه مړېدُو
څه نوې تماشه وه په کتو نه مړېدُو
(کليات:۴۷مخ)

د اورنګزيب اختيار اپريدي غزل:

لېونۍ تول مې ولې نه تخنوي
زړه کې مې څه دي چې مې زړه تخنوي
(کليات:۴۷مخ)

د مقدر شاه په غوښتنه د غزل د تکميل له‌پاره دا مقطع نيازالدين نياز ليکلې ده:

مرګ او بېلتون دواړه جوړه راغلي
خاطر دا واخلم که دا واخلم
(خاطر کليات،۴۷مخ)

دا پورته بيت په دغه کليات کې هم د غزل په مقطع کې همداسې راغلی او دغه راز د ځينو نورو شعرونو يادونه يې هم کړې ده. مدون وايي: »کله چې د خاطر اپريدي اصلي قلمي نسخه لاس ته راغله، نو پوه شوم چې نه يوازې زما ترتيب کړې نسخه څومره نيمګړې ده، بلکې چاپ شوي کتابونه يې هم ډېر زيات نيمګړي او نامکمل دي. «(کليات: ۴۴مخ)

مدون په سريزه کې د شاعر پر سبک، ژوند، د ليکدود تشريح، ويی پانګې او د متن څېړنې مېتود په اړه څه نه دي ويلي. نوموړی د شاعر هم‌مهالی او نږدې دوست و، بايد په سريزه کې يې د شاعر د ژوند، د هغه د شاعرۍ او نورو لازمو اړخونو په اړه بشپړه معلومات راوړي وای. د خاطر نور بازاري دېوانونه يې هم بايد له اصلي نسخې سره پرتله کړي وای، ښايي ځينې داسې شعرونه يې په کې پيدا کړي وای چې په اصلي نسخه کې نه وو يا به يې سمه بڼه په کې موندلې وای.

که څه هم د دغه کليات په سريزه کې پورته ياد موارد نه

۳مخ





ليکوال: پروفيسر انور جمال

ژباړونکې: نازو کمال


**۸۲. علميات . (EPISTEMOLOGY)**
د علومو علم ته علميات وايي. علميات هغه علم دی، چې خپله پر علم بحث کوي، يعنې علم څه دی؟ ماهيت يې څه دی؟ د ترلاسه کولو لارې چارې يې، د کار دايره يې، اړتيا يې او همدارنگه د علم پر بېلابېلو څانگو بحث کولو ته epistemology ويل کېږي. ويلی شو چې علميات د علم ماهيت او د هغه پر حدودو بحث کوي.

**۸۳ـ عمراني کره کتنه (SOCIOLOGICAL CRITICISM):** عمراني کره کتنه د کره کتنې هغه برخه ده، چې ادبي ليکنه يا اديب د ټولنيز پسمنظر پر اساس تلل کېږي. د کوم اديب، يا ادب همدارنگه د هغه د مقام ټاکلو لپاره د دوی ټولنيز چاپيريال په نظر کې نيسي او د هماغه معيار پر اساس چې کره کتنه پرې وشي، دا د عمراني کره کتنې دنده ده. هر اديب په يوه ځانگړې ټولنه او ځانگړي ټولنيز چاپيريال کې روزل کېږي او د هغه ليکنه يا تخليق هم د هماغه ټولنې د طرز تفکر او احساس استازي وي. د يوه نسل، قوم، ټولنې، د وگړو د فکر خرنگوالی، د دوی طبع، احساسات، ارواپوهنيز مسايل، عقيدې او نظرياتو پر اساس د يوه ادب څېړل ممکن کېدای شي.

**۸۴. عملي کره کتنه (PRACTICAL CRITICISM)**
کره کتنه دوه برخې لري:
۱. نظري کره کتنه.
۲. عملي کره کتنه.
کله چې په کومه ادبي ليکنه بحث کېږي، دا نظري کره کتنه ده، د مثال په ډول، هنر څه دی؟ هنر بايد د ژوند لپاره وي که نه؟ د کره کتنې اړتيا څه ده؟ د ښکلا او ښکلا پنځونه له هنري ليکنې سره څه اړيکه لري؟ آيا د خوښۍ او خوند رامنځ ته کول د هنر دنده ده؟ آيا ادبي ليکنه له ژوند سره هماهنگي يا ورته والی ولري که نه؟ په داسې حال کې چې عملي کره کتنه د کره کتنې د جوړ کړل شويو اصولو پر اساس ادبياتو باندې بحث کوي. په دې معنا چې عملي کره کتنه د نظري کره کتنې پر بنسټ ادب تلي او د هغه پر اساس يې د مقام او مرتبې معلومولو نوم عملي کره کتنه ده.

**۸۵. ذوق . مذاق (TASTE):** ځانگړې هنري اصطلاح ده او د انساني باطن داسې کيفيت دی، چې ښکلا او ښايست احساسوي. کروچې ذوق يوازې داخلي کيفيت گڼي، خو چرېز وايي چې ذوق داخلي او خارجي دواړه دی. د کالرج په وينا ذوق يوازې د خوښۍ او غم احساسولو نوم نه دی، بلکې د څيزونو عقلي درک هم دی، په دې معنا چې کالرج ذوق د عقل او حواسو ترمنځ صلاحيت هم گڼي. توازن، موزونيت، نرمي او تسکين د ذوق ځينې عناصر دي. که ذوق ته د داخلي کيفيت په نظر وکتل شي، نو تسکين يې يوازېنۍ ځانگړنه ده، چې په يوه لحاظ يې پايله هم ده، موزونيت او نرمي يې بيا خارجي عناصر دي. د ښکلا په ترتيب او هنري تخليق کې د پنځونکي په کار هم راځي او د پنځونکي رويه هم تعينوي. کله نا کله ذوق د وجدان هم معنا هم کېدای شي، دواړه اصطلاحات له انساني حس سره تړلي دي.

**۸٦. بحر (METRE/ METER)**
د عروضو د علم اصطلاح ده، په کوم وزن کې چې شعر ويل کېږي، د هغه اصطلاحي نوم بحر دی. د بحر ارکان دا اته (فعولن، فاعلن، مفاعلين، فاعلاتن، مستفعلن، مفاعلتن، متفاعلن، مفعولات) دي. په دې کې لومړي دوه رکنه پنځه توري او پاتې نور اووه حروفه لري. کله کله يې د دوو ارکانو (مستفعلن او فاعلاتن) په اجزاوو کې توپير راځي، نو په دې حساب يې ارکان کله کله تر اتو هم ډېرېږي.

**۸۷. ايمائيت (SUGGESTION)**
په شعر يا کلام کې يوې پېښې ته فکري اشاره کول او بيا مخ پر وړاندې تللو ته ايمائيت وايي. خو دا اشاره دومره هنري، تخليقي او په زړه پورې وي، چې د لوستونکي خيال او احساسات په داسې ډول راپاروي، چې د شعور په پرده يې د بيان شوې پېښې بشپړ انځور جوړ شي. د نړۍ د لويو شاعرانو په شاعرۍ کې ايمائيت په پوره قوت انځور شوی او ليدل کېږي، د ډېرو ژبو شاعري د ايمائيت له وجې د پام وړ گرځېدلې ده، همدارنگه نوي نظم ليکونکي هم د شاعرۍ دې برخې ته ډېر پام کوي.

**۸۸. تحرير يا ليکنه (WRITING)**
دا د ادبياتو يوه عامه اصطلاح ده، هر ليکل شوي عبارت ته ليکنه ويل کېږي. ادبياتو په دې اصطلاح کې ادبي او تخليقي عناصر شامل کړي دي، نو دلته يې موخه ادبي ليکنه ده.

**۸۹ـ تاثراتي کره کتنه (IMPRESSIONISTIC CRITICISM):** د کره کتنې هغه ډول دی، چې په نولسمه پېړۍ په وروستيو کې د سيمبوليزم پر وړاندې رامنځ ته شوه. ميتهيو آرنلډ، والټر پيټر او اسکار وايلډ يې استازي وو. تاثراتي کره کتنه په اصل کې هغه کره کتنه ده چې کره کتونکی هنر او هنري اثر د اغېزمنتيا له نظره گوري، د دې کره کتنې پر اساس د ژوند پېښې چې څه ډول دي، بايد هماغسې وکتل شي، چې دلته بيا د ښکلا او ښايست د ډېرېدو سبب کېږي. د نولسمې پېړۍ ټوله ادبي سرمايه د تاثراتي کره کتنې تر جادويي اغېز لاندې وه، په شلمه پېړۍ کې يې اغېز څه نا څه کم شو، خو ښکلاييز اړخ يې اوس هم موجود دی.

**۹۰. تحريف (PARODY)**
پيروډي يوناني الاصله کلمه ده، په اردو ژبه کې تحريف ورته کارېږي، د کوم شاعر ډېر ښه شعر چې لږ بدل او خندونکی شعر ترې جوړ شي، يا کوم ښه کلام داسې بدل شوی وي چې د خندا وړ وگرځي، د تحريف اصطلاح ورته کارول کېږي.

**۹۱. د تحريف اساسي ځانگړنې**
۱. کوم کلام چې تحريف کېږي، بايد څرگند او مشهور وي.
۲. د نامتو شاعرانو منل شوي او مشهور شعرونه يوازې تحريف کېدای شي.
۳. د تحريف خوند د اصلي شعر او تحريف په پرتله کې دی.
۴. تحريف کې طنز، ټوکې، ريشخند او خندا اړين وي.
۵. لوستونکي هغه وخت له تحريف څخه خوند اخيستی شي، چې د اصلي شعر له باريکيو خبر وي.
٦. تحريف دوه ډوله وي.
الف) د بيان د طرز تحريف.
ب) د معنا او مفهوم تحريف.
۷. په ادبياتو کې تحريف داسې دی، لکه په نقاشۍ کې د کارټونونو جوړول يا په موسيقۍ کې هغه سندرې چې په خرابه بڼه ويل شوې وي. / پای


انجنير قاري عزيز الرحمن «رحماني»


## شــــــــپه

روژه وه، شپه په ختمېدو وه د پشلمي (پسېمي) لپاره تولی ووهل شوه.
خلگو دپسېمي لپاره تياری شروع کړ.
د خدای مؤمنو بند گانو لا په گوله خکه نه وه کړې چې ناڅاپه درب شو! خلگو هاخوا دې خوا منډې کړې.
زه هم له واره ولټېدم مخ ته مې اوبه واچولې، بهرته په بيره ووتم.
خو قدمه مخته لا نه وم تللی چې له يوه کور څخه چيغې پورته شوې،ماهم ليرې پښه ونيوله.نور کليوال هم راورسېدل،په گډه مو د کور دروازه خلاصه کړه.
د کور ټول وگړي په وينو کې لت پت پراته وو،پرته له يومعلول ځوان څخه چې هغه د کور په برنډه کې يوې ستنې ته ډډه وهلې وه، ناڅاپه د يوې ميرمنې غږ اوچت شو.لور،لورمې...!!
کليوالو هغې خوا ته و کتل،يو ځوان په اوچتو قدمونو د هغې خوا ته ورغی خپل لاس يې تر اوږې ورلاندې کړ رااوچته يې کړه! مړاوی غږ يې له خولې ووت، وروره! لور مې ښه ده؟ سرۍ غلی شو سترگې يې له اوښکو ډکې شوې،ورته يې کړه،ليرخوړ ده! ښځه غربو واخيسته.
دروازه خلاصه شوه،يو دنگ ځوان کورته راننوت، ورپسې څو نور وسله وال کسان راغلل په اوچت غږ يې وويل: موټران مې راغوښتي ټپيان به ژر روغتون ته ورسوي.
جيب ته يې لاس کړ،څو پيسې يې ځوان ته ونيولې،ورته يې کړه:هله ته هم ورسره ولاړشه! دا پيسې واخله په کارېږي.
کليوالو ته يې مخ واړاوه دا پېښه څنگه وشوه؟ يو سپين ږيری رامخته شو!
ورته يې کړه مولوي صاحب! دا زموږ گاونډيان دي. موږ پسيمي ته پاڅيدو چې ناڅاپه درب شو،کور کې ښځو چيغې کړې چې د عبدالحی په کور کې درب شو،ماهم په منډه ځان راورساوه! ما فکر کاوه چې ديگ بخار به چاودلی وي. خو...
مولوي صاحب څه..،څه؟
کور کې نورڅوک شته؟سپين ږيري سر وخوځاوه، چې نه خاوند يې کال مخکې په حق رسېدلی.
خو يو معلول زوی لري! شکر هغه بچ دی! هلته ستنې ته يې ډډه لگولې. مولوی صاحب هغه ځوان ته وويل، د اپېښه څنگه وشوه؟
ځوان ورته وويل: مور مې د پسيمي لپاره تياری نيوه،لاسي څراغ ورسره و، کله چې يې هغه ولگاوه غوښتل يې چې پخلنځي ته ولاړه شي په دې وخت کې دعسکرو له نيزدې پوستې څخه درب پورته شو.
چې کتل مې کورنۍ مو ټوله په وينوکي لژنده پرته ده! / پای

## نړۍ والې ژبې...

په ښوونځيو کې تدريس کېږي.
د جرمنيک ژبو له منځه الماني او انگريزي ژبې ډېر پراخ Zirkulation دوران لري. انگريزي ژبې په ستر سوداگريز قوت باندې د انگلستان د بدلېدو او د کلونيال دولت د رامنځته کېدو سره يو ځای غځونه وکړه. انگريزي ژبې د اوسېدونکو ژبې ( د نورو هېوادو اوسېدونکي) تر فشار لاندې ونيولې او د شمالي امريکا په ستره برخه، استراليا او نوي زېلاند کې يې خپل ځان ځای په ځای کړ، انگريزي ژبه د انگلستان د هغه وخت په کلونيال دولت پورې په اړوندو هېوادونو کې هم ډېره وکارېده او د خپلواکۍ د اخيستلو څخه وروسته هم په مشخصو برخو کې موجوده ده.
جرمني ژبه تر هر څه د مخه د علمي کارونو او اقتصادي اړيکو په واسطه پراخه شوې ده، په دې ډول جرمني ژبه په ځانگړې توگه په شمالي برخو او په هغو کې د هماغه وخت د اتريش او هنگري Monarchie امپراتورۍ (د شپاړسم قرن يوناني کلمه ده) او د علمي معلوماتو د ژبې په توگه په ډېرو هېوادونو کې د بېلگې په ډول؛ په سلاوي ژبو هېوادونو کې مشهوره ده.
د سلاوي ژبو له منځه روسي ژبه خورا پراخه ده. په پيل کې په روسي ژبه باندې په محدوده ساحه کې خبرې کېدې خو د روسيې دولت د پراختيا او د پرمختلونکي روسي تمدن او کلتور په وجه په اتلسمه او نولسمه پېړيو کې پسې پراخه شوه. نن ورځ په روسي ژبه باندې د مورنۍ ژبې په حيث يو سل او څوارلس ميليونه وگړي گړېږي ( دا شمېر اوس ډېر شوی دی)، همدا رنگه د شوروي اتحاد نور ولسونه هم روسي ژبه د کلتور د ژبې او د متقابل پوهاوي د وسيلې په توگه کاروي (د شوروي اتحاد په نوم هېواد اوس د نړۍ پر مخ نشته).
روسي ژبه نه يواځې په سوسيالستي هېوادونو کې د ډېرو پوهانو، هنرمندانو او په کارونو بوختو خلکو له خوا زده کېږي، بلکې هر چېرته. نن ورځ روسي ژبه په لويديځو هېوادونو کې د پرله پسې ډېرېدونکي Publikum ( حاضرين، ليدونکي او اورېدونکي خلک) له لوريه هم زده کېږي او په ټاکلو مرکزونو کې په بېلابېلو ښوونځيو کې تدريس کېږي.
بلاخره بايد چې چينايي ژبه هم ياده شي. د مورنۍ ژبې په توگه د نړۍ ډېر ستر شمېر خلک په دې ژبه خبرې کوي، د يوه ډېر ځنډن کلتور په لرلو سره چينايي ژبه د لرې ختيځ په مختلفو هېوادونو کې مشهوره ده.
تر دې ځايه يادې شوې ژبې داسې کلتوري ژبې دي چې پرستېږ يې په سياسي، اقتصادي او کلتوري علتونو باندې ولاړ دی.
د انسانانو بېلابېلې ډلې او گروپونه تر مشخصو شرايطو لاندې دا زيار باسي چې د يوه بل سره د پوهاوي په لړ کې داسې عناصر وکاروي چې هر يوه د يوه او بل څخه زده کړې وي. د دې Mischung گډون څخه داسې Hybride (دوه منشايي) ايډيمونه را ووزي چې د هغو ژبو د اختلاط څخه چې غږېدونکي يې د يوه او بل سره په اړيکه کې وي جوړېږي. په دې لړۍ کې د معمول سره سم يوه ژبه په ساده فورم کې اساس وي. په ټوله کې د يوه بېړني او فوري پوهاوي له پاره اړينې ويزې اساسي برخې همرنگې کېږي، په اکثرو حالتونو کې دا په داسې سوداگريزو اړيکو پورې اړه لري چې همداسې غوښتنې لري؛ د ژبې داخلي جوړښت بې لاسوهنې پاتې کېږي همدارنگه گرامري معناوې اکثراً په ويېزو وسيلو سره تشريح کېږي. له دې امله دا ډول ايډيمونه هېڅ کله هم واقعي ژبې نه څرگندوي، دوی د ډېر لږ وخت لپاره پاتې کېږي، دوی Hybride او يا لږ تر لږه د جوړجاړي، راکړې ورکړې او کلونيال ژبې بلل کېږي، په ځينو دغو ژبو کې د مختلفو ژبو Anteil يا گډون يوشان والي ته نيږدې دی.
دا د زابير Sabir (Sabir د لاتين د Sapere له کلمې څخه اخيستل شوی چې د پوهېدلو معنا لري.) ژبو حالت دی چې د مديترانې په غاړو يا بندرونو کې کارول کېږي.
په دغو ژبو کې فرانسوي، اسپانوي، يوناني، ايټالوي او عربي (ژبې) ورگډې دي، لکه چې وړاندې وښودل شول دا تر هرڅه د مخه او په لومړۍ ليکه کې د ويې پانگې په بنسټيزو وييونو باندې راځرخي.
د شمالي افريقا په زابير کې Macache bono (هغه نه دی ښه) د عربي ژبې د Ma kansi (هغه نه دی) او د روماني ژبو د ويي Bono څخه په گډه د ستاينوم (ښه لپاره جوړ شوی دی)
د مديترانې په بندرونو کې د زابير Sabir ژبو د رول غونډې رول په جاپان، جنوبي بحيرې، هانکانگ او د کاليفورنيا په يوه برخه کې Pidgin - English ژبې لري. د دې ژبو لغتونه د انگريزي ژبې څخه اخيستل شوي او د چينايي ژبې د وييونو د ترتيب غونډې سره اېښودل شوي دي.
د پاسفيک په ټاپو گانو کې Beach - la - mar کارول کېږي چې بنسټ يې انگريزي لغتونه جوړوي، گرامري معناوې د لغوي وسيلې په واسطه تشريح کېږي د بېلگې په ډول ډېر گړی يا جمع يې په All (Alle) سره جوړېږي: He talk هغه خبرې کوي، All he talk هغوی خبرې کوي، راتلونکې زمانه د By and by د وييونو يا لغتونو په وسيله بيانېږي او تېره زمانه د Been يا Finish د وييونو په ذريعه: Me look him ما هغه ليدلی دی.
په همدې ډول کېدای شي چې Kreol ژبو ته د گډو ژبو په سترگه وکتل شي. په پيل کې په دې ژبو باندې په افريقا کې د زېږېدلو (اصلي اوسېدونکو) له خوا خبرې کېدې تر څو د پرديو خلکو سره د شيانو يا اجناسو د تبادلې په سلسله کې خبرې پرې وکړې. د انگريزي، فرانسوي، اسپانوي، هالنډي او پرتگالي ژبو وييونه د دې ژبو بنسټ جوړوي. Kreolen د هغو ځنډنو سپين پوستو پلرونو او ميندو څخه را پاتې اولادونه دي چې په جنوبي امريکا، افريقا او يا هم غربي هند کې زېږېدلي وو. په امريکا کې زېږېدلي تور پوستي چې Neger ورته وايي تور Kreolen يې بولي. (ژباړن)
په بېلابېلو سيمو کې د ساري په ډول په Antillen (مرکزي امريکا کې پراته دي.) چې مختلف غلامان يې په مختلفو ژبو خبرې کوي، کرېولي ايډيمونه د اصلي اوسېدونکو له خوا وکارول شول تر څو نه يوازې د پرديو سره بلکې خپلمنځي پوهاوی هم ورباندې وکړي، دوی په دې ډول او په دې کړنو سره افريقايي ژبې بدلې کړې تر هر څه لومړۍ په کرېولي ژبو کې خبره د اروپايي ژبو په لغوي برخو باندې راځرخي. د اروپا په ځای بايد وار له مخه په افريقا کې د گډو رښتينيو څېړنو يادونه وشي. / د مقالې پای


ليکوال: پروفيسور ولي محمد خان سيال کاکړ
ژباړونکی: څېړندوی حمايت الله ښاد


## غوره وېناوال او باکماله شاعر ملا عبدالحکيم مشوانی

**گل بدست يار دادم او ز گل شايسته بود**
**از خجالت ريخت بر گش بنده گی خود نمود**
**نادان تر است »طالب عبدالحکيم «ازان**
**در دست بيوفا صنمی داده است ريش**
**ای دل از دوست هر چه رسد بر سرت مرنج**
**راحت بکار عشق نباشد بغير رنج**

پارسي ژبه د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې دود وه. دا خوږه ژبه نه يوازې د پښتنو په منځ کې د درس او تدريس ژبه وه؛ بلکې زموږ ډېرو وگړو له دې لرغونې ژبې سره پوره بلدتيا او لېوالتيا درلوده او د سعدي او حافظ په ژبه گړېدل.
د پارسي ژبې له دغو گړېدونکو يو هم ملا عبدالحکيم مشوانی دی، چې شاوخوا يو سلو څلوېښت کاله دمخه يې د پنجپايي سيمې د »محمد خېل «په کلي کې نړۍ ته سترگې غړولې دي. موږ د دې نامتو شاعر د ژوند په باب بشپړ، پوره او کره معلومات نه لرو؛ خو د دېوان له داخلي شهادتونو، چې د »چهارباغ «په نامه ترتيب او تدوين شوی؛ له څېړونکو او ليکوالو سره ډېره مرسته کوي. چهار باغ راته وايي، چې ملا عبدالحکيم د ملا کرم زوی او د ملا کريمداد لمسی و، نوموړی د (محمدخېل) کلي اوسېدونکی او د پښتون ټبر له محمدخېلو مشوانيو څخه و. پلار يې پښتون او مورنۍ ژبه يې »براهوي) وه. يا ويلای شو، د براهويانو خوری و. داچې ملا عبدالحکيم مشوانی د عربي، پښتو، پارسي او براهوي ژبو غوره شاعر و، ښاغلي شاعر په براهوي ژبه د ځان په اړه د چارباغ په مخونو کې داسې گټورو مطالبو ته تم شوی دی:

**«براهويک» که کنا «ماما» مريره**
**که »مشواني «اُټ تينا اصل چانه**

معنا داچې براهويان مې ماماگان دي؛ خو زه له آره مشوانی يم.
همدارنگه ملا عبدالحکيم په يو بل بيت کې د خپل پلار، نيکه او خپل نسب په اړه داسې معلومات وړاندې کوي: »حکيم « ماری »کرم «نا، نواسا غاتيانی »کريمداد« نا نسب ناتاکه هر فيس »محمدخيل، مشوانی«يعنې ملا عبدالحکيم د کرم زوی او د کريمداد لمسی دی او هغوی چې زما د نسب په اړه پوهېده غواړي؛ زه محمد خېل مشوانی يم.
دا خبره مو هېره نه شي، چې د براهوي ژبې نامتو ولسي شاعر اروابښاد پيرمحمد قلندراني په خپل اثر »تحفة العوام «کې د ملا عبدالحکيم مشواني د نسب په اړه هم گټور موضوعات خوندي کړي دي:

**مړی راضي »ملاعبدالحکيم «آن**
**بيان نن کن کرينی شرط ايمان**
**که ذات او نا اری »مشو اړی افغان«**
**خلاصی ايت ته رب ترس و بيم آن**

يعنې: خدای تعالی (ج) دې له ملا عبدالحکيم څخه راضي وي، موږ ته يې د ايمان شرطونه بيان کړي وو. هغه نَسبي »افغان مشوانی «دی. خدای (ج) دې له وېرې او ډار څنې ساتي.
هو! د »چهار باغ «دننې شهادتونه دا مطلب په ډاگه کوي، چې د ملاعبدالحکيم مشواني ماماگان »کانک = kanak« وو. مور بي بي يې براهوۍ او په براهويانو کې محمد شهی وه. حقيقي ماما يې مدد خان محمد شهي و، ماما ته يې عبدالرحيم ډېر گران او منلی زوی و، چې په براهوي شعرونو کې يې ډېر ستايلی هم دی. ملا عبدالحکيم مشواني په دې اړه په يو براهوي بيت کې داسې معلومات نغښتې دي:

**«عبدالرحيم» پن تا، مار «مدد خان» نا**
**«محمد شهی» اس اصلټ «کهانک» او ناجا**

يعنې: نوم يې عبدالرحيم دی او د مددخان زوی دی. نوموړی د محمد شهي له قبيلې او اهل کانک څخه و.
ښکاره ده، چې ملا عبدالحکيم يو بې مثاله شاعر او بې بديله عالم و، ده خپلې زده کړې له کومو... کومو ځايونو او کومو استادانو څخه بشپړې کړې وې؟ په دې اړه ټولې تذکرې چپه خوله دي او سيمه ييز معلومات يوازې او يوازې په ژبني او شفاهي قياسونو او گومانونو ولاړ دي. داچې پلار يې ملا کرم يو آخوند و؛ نو ښايي مشواني هم د دين لومړني او ابتدايي کتابونه له خپل پلاره لوستي وي، وروسته قندهار او شاوخوا سيمو ته تللی وي او خپلې نورې زده کړې يې بشپړې کړې وي. په دې چې هاغه وخت کندهار د علم او ادب مرکز و، د دې سيمې ډېر پښتانه به د ښارونو ناوې (کندهار) ته تلل او د دغه فرهنگي او علمي مرکز له متبرکو استادانو څخه به يې علم زده کاوه. قوي امکان شته، چې ملا عبدالحکيم مشواني درسي نظامي کتابونه په کندهار او شاوخوا او غاړو څنډو کې لوستي وي او له دې لارې د علم لوړو پوړيو ته رسېدلی وي.
**د چهار باغ پېژندنه:** چهار باغ په رښتينې معنا چهارباغ دی، چې اروابښاد ملا عبدالحکيم مشواني پکې د پسرلي خوږې شعري نغمې په څلورو ژبو کې په ځانگړې ډول اوډون او ترتيب کړې دي. څښتن تعالی (ج) ورته خاص صلاحيت او لوړ استعداد ورکړی و، څرنگه چې نوموړي په عربي، پښتو، پارسي او براهوي ژبو کې د منظوم ادبي سمندر له ژورو برخو مرغلرې راايستلې او په دغو ژبو کې به يې د خپل فکر تفسير او د ټولنې تعبير وړاندې کاوه؛ حقيقت دا دی، چې په دغو ژبو لاسبری او په پوره معنا يې پکې د تخليق حق اداء کړی دی. شاعر خپل چهار باغ د څلورو ژبو د شاعرۍ په رنگارنگ گلانو ښايسته کړی دی. شعرونه يې په ترتيب سره لومړی عربي ورپسې پښتو او همداسې پارسي او براهوي راوړي دي، چې په ټولو ژبو کې يې د عربي قافيو په پل شاعري کړې ده. دی د چهار باغ په سريزه کې داسې ليکي: « ځينې پښتو او پارسي غزلې مې د مينې او عشق موضوعات رانغاړي، همداسې د هر توري په قافيه کې هجايي غزلې ويل شوي، د عاشق د زړه د تسلۍ او سکون لپاره لکه، چې وايي:

**چې پرې غم غلطومه هغه درې دي**
**يو قلم دويم بياض دريم اشعار دي**

## غیر رسمي ژبه...

د غیر رسمي ژبې لپاره د ولسي کلمو زېرمه پکار ده. پوهان وايي چې هرې خبرې ته خپلې کلمې وي چې په نورو کې نه افاده کېږي، نو چې ژباړې کوو پکار ده چې ولسي کلمې راسره وي چې ځای ناځای یې د انډولو کلمو په توګه وکاروو. که ولسي کلمې مو پکار وي، د ولس ژبې ته غوږ شئ او پخپله هم فکر وکړئ، ډېرې کلمې به دریادې شي. په هغو لیکنو کې خو بېخي ولسي ژبه پکار ده چې عوامو ته مخاطبې وي. په خپرونو کې چې د باغوان پرځای باغدار یا باغ لرونکی یا بڼوال وایو، نو عوام به پرې څه پوه شي. دا خو یې یو ساده مثال و، نورې ډېرې ضرورې کلمې شته چې لیکوال او ژورنالیستان یې زده کړې ته اړ دي.

مثلا: وټ، کیل، شالیزار، ناپرېته، سر په ټوله، چنې، پیتاوی، ښانګې ښانګې، ښنګی، لینګي او په زرونه نور.

له دې سره ګړنې هم پکار دي. اصطلاحات په جوړښت او مفهوم کې د متلونو پرخلاف بشپړ نه وي، خو د متلونو غوندې انتقادي ترخه او طنزي خواږه پکې وي او لیکنه ورسره خوږېږي.

مثلا: لاس اخیستل، پوزه پرې کول، لاس پورې کول او داسې په سوونو نور.

مثال: ادب او ټولنه نوک او وری دي.

متلونه هم په ولسي ژبه یا غیر رسمي سبک کې کارېږي چې د خبرې د ولسي کولو لپاره ولسي منطق جوړوي او د خبرې د پیاوړتیا، انتقاد او طنز غوره وسیلې دي.

مثلا: څه ابۍ ورسته، څه توره تېره، شرم خو څه ګډوری نه دی چې درپسې رمباړه کړي، له نېستۍ ژرنده چلوي، له کبره مز نه اخلي او داسې په زرونه.

د شعرونو د مسرو، لنډیو، د مشهور ولسي او تحریري کیسو د کرکټرونو د نومونو او پېښو له کارونې سره هم سبک غیر رسمي کېږي او د ضرورت په وخت یې استعمال په لیکنه کې خوږلنې پیدا کوي. شعري یا نثري ټوټې چې د لیکوال له لیک سره ګډې نه شي، په لینډیو کې بندېږي. همداسې د لیکنو سرلیکونه هم له متلونو، لنډیو او شعرونو ټاکلی شو. شپون صاحب چې د غیر رسمي سبک په سرلارو کې دی، د لیکنو زیاتره سرلیکونه یې له متلونو او ولسي ژبې جوړ وي. په دې وروستیو کې یې په تاند کې یوه لیکنه د (غر که د مچ وزر) په نامه چاپ شوې ده. د خوشال بابا ډېر بیتونه او نیم بیتي د لیکنو سرنامې کېدی شي.

بل د جملو انتخاب او ترتیب دی. ولسي ژبه چې روانه او ساده ده، یوستوې جملې پکې زیاتې دي، بیا ورپسې غبرګې جملې دي او ګډلې یا مختلطې جملې خو پکې ډېرې کمې دي، هغه هم زموږ د ژباړلو مختلطو جملو غوندې اوږدې او سربدالې نه وي، چې سر و پای یې معلوم نه وي. پرله پسې څو غبرګې جملې یا مرکبې جملې هم پکې یوه نیمه پیدا کېږي، نو لیکوال که غیر رسمي ژبه غواړي، یوستوو جملو ته دې لومړیتوب ورکړي. څو پورې چې په یوستوو جملو کار چلېږي، غبرګې دې نه کاروي او د یوستوو هم ډېر اوږدول پکار نه دي، که غبرګه جمله پېچلې کېده او مانیز زیان یې رامنځته کاوه، نو د ضرورت له مخې دې په څو یوستوو جملو ووېشل شي. که غبرګو ته اړتیا وه، نو ترمنځ دې یې مرکب ارتباطي ادوات (لکه څرنګه چې، نه یواځې دا چې ...بلکې او...) ډېر نه کاروي. ډېرې خبرې له دغو ادواتو پرته هم کېږي، نو بیا یې اړتیا څه ده؟ د دې پرځای که د ولسي ژبې ساده ارتباطي ادوات(خو، نو، بیا او...) راشي، ښه به وي.

له زیاتو کلمو ځان ساتل هم پکار دي.

د یوستوو او غبرګو جملو د ټوکونو ترتیب د مفهوم له توپیر سره بدلېږي: مثلا: د لاندې دوو جملو مفهومونه بېل دي:

سوله به راشي.
رابه شي سوله.

په لومړۍ کې پر سوله ټینګار دی، خج(فشار) یې هم اخیستی او د جملې سرته هم راغلې، خو په دویمه کې همدا کانه له فعل(رابه شي) سره شوې.

یا

ودانولی یې نه شي...
ودانولی یې شي نه...
استوي یې نه (خو).
(خو) نه یې استوي.

یا:

زه به بېرته هم راځم/زه به بېرته راځم هم.
زه به هم بېرته راځم.

وګورئ، د یوه (هم) د ځای له بدلون سره د جملې مفهوم تغیر وکړ. په هر ډول جمله کې د اجزاوو د ځای بدلون په مفهوم کې بدلون راولي.

په پښتو ګرامرونو کې د جملو ډولونه او یو ډول اوډون خو شته خو د اجزاوو متنوع او اوښتونکي ترتیب ته پکې اشاره نشته، ګنې د اجزاوو د ترتیب له اوړون سره په مفهوم کې توپیر پېښېږي او دا چاره ګرامري ارزښت لري.

د لیکوال وسله ژبه ده، نو په ژبنیو نزاکتونو او عامه ژبه ورته پوهاوی پکار دی، ګنې یا به ځان خرابوي یا ژبه او چې بیا خبره بېرته راجوړوې راجوړوي، د افغانستان د رسنیو ژبه به ترې جوړه وي، سمولی به یې شي نه، په خبره به پوهېږي نه او په ډنډ کې به ورته خولې کېږي.

یوه لیکنه ضرور نه ده چې ټوله په نارسمي ژبه لیکل شوې وي. په یوه ځای کې د طنز ضرورت وي، هلته طنز پکار دی، په بل ځای کې جدیت اړین وي، هلته جدیت. کله به د کلمو ولسي تلفظونه او ولسي ژبه کاروې او کله به ساده ایغي نېغي جملې، همداسې لکه سړی چې په عملي ژوند کې خبرې کوي. خبرې کوي کوي، ناڅاپه یې وچولی تریو شي، خبرې یې ترخې شي، یا داسې جملهووايي چې د مخاطب ورته خوله لاړه شي. / پای

## د خاطر اپریدي د ...

دي راوړل شوي خو بیا هم ښکاري چې تدوین یې په زیار او د متن څېړنې میتودولوژۍ د ځینو اصولو په رعایت سره شوی، په ځینو شعرونو کې د کمي یا زیاتي او شک په صورت کې له کلیم الله شینواري او اسلم تاثیر شینواري سره سلا مشوره شوې او د هغوی نظر یې اخیستی دی.

مدون د خپل زیار او دقت په اړه وايي: »د خاطر د لاس لیک قلمي نسخې د بیا را نقل کولو په وخت چې زه او عنایت الله اپریدي (د خاطر کلیوال) د کوم کړاو سره مخامخ شولو، د هغې اندازه به لوستونکو ته هله ولګي چې دا نسخه په خپله وګوري؛ ځکه چې په دې کې دومره زړې او ضعیفې ورېږې پرچې هم وې چې لوستل یې ډېر ګران وو او بل دا چې د خاطر د لیک یعنې املا سره اشنا کېدل او د هغې نه صحیح مفهوم اخذ کول هم یوه مسئله وه. د دې په نقل کولو کې موږ له انتهایي زیات احتیاط نه کار اخیستی دی .«(کلیات: ۴۵مخ)

مدون یوازې پر دې قلمي نسخه بسنه نه ده کړې، بلکې پر دې سربېره یې نوره پلټنه هم له خلکو کړې ده چې په پایله کې ډاکټر زبیر حسرت د خاطر څو غزلونه ورسپارلي چې د مدون په وینا، په دې غزلونو کې یوازې یو غزل له موږ سره په مسوده کې نه و چې هغه مو هم ور زیات کړ.

مدون له ډېرې څېړنې وروسته اعتراف کوي او وايي: »موږ د خپلو مصروفیاتو له امله د لایبریو (کتابتونونه) زوړ ریکارډ ونه شو کتلی، نو که اوس هم چا سره په زړو رسالو کې د خاطر داسې کلام موجود وي چې هغه په دې کلیاتو کې نه وي، هیله ده له موږ سره یې شریک کړي. «(کلیات:۴۸مخ)

له سریزې وروسته د کتاب په پیل کې نعتیه کلام راغلی، ورپسې غوښنه برخه یې ټول غزلونه دي، په منځ منځ کې لوبه او چاربیتې هم راغلي، له ۵۵۷ نه تر ۵۹۰ مخ پورې نظمونه دي چې هر نظم یې عنوان لري چې ډېر یې حماسي دي. دغه راز بیا تر ۶۰۱ مخ پورې قطعې او په پای کې ۴۲ لنډۍ راغلې دي. لغوي وییپانګه نه لري، خو د سختو، سیمه‌ییزو یا لهجوي کلمو معناوې په لمن لیک کې تشریح شوې دي. نور اقتباسات، حاشیې، اختصاري نخښې او تعلقات نه لري، املا یې د کلیم الله شینواري لهخوا په پېښوري معاصر لیکدود اړول شوې، خو په هېڅ ځای کې د لیکوال د اصلي لیکدود یادونه نه ده شوې او د »خاطر اپریدي کلیات «نوم هم ورته کلیم الله شینواري ټاکلی دی. د یو نیم بیت په منځ کې په ځینو کلمو چې مدون نه دی پوه شوی، هغه یې خالي پرېښې، یعنې له ځانه یې بیت نه دی بشپړ کړی چې دا د یو ښه څېړونکي ځانګړنه ځکه ده چې بل چا ته یې د کار کولو لاره پرېښې ده؛ لکه دا بیت:

پـه غـرور یـې............ پروا نشته
تا ته هسې زما ښکاري غرځنی زړه - (خاطر کلیات،۷۸مخ)

او ځیني بیتونه سندرغاړو او د شاعر په چاپ شوو نورو ټولګو کې د ځینو الفاظو په بدلون سره ناسم ویل او لیکل شوي چې د نمونې په ډول لاندې بیت په دې کلیاتو کې داسې دی:

له واره مې نرۍ شو زړه همزولو مه خاندئ
خـاطـر چې غرېـو نیـولـې په ژړا را وکتـل
(خاطر کلیات،۵۵۳مخ)

او ناسم ډول یې داسې مشهور شوی:

یو دم مې زړه نرۍ شو همځولو خاندئ مه
خـاطـر چې غرېـو نیولي په ژړا را وکتـل

که چېرې د غزلو او نظمونو برخې سره جلا- جلا په ترتیب سره راوړل شوې وای یعنې لومړی غزلې د الفباء په ترتیب راغلې وی او ورپسې نظمونه نو لوستونکو ته به د خپلې خوښې غزل پیدا کول اسانه وی، بله دا چې په پیل کې یې لیکلړ هم راوړل شوی وی ښه به وه؛ نور کتاب په ټوله کې د وخت د مروج او نسبي لیکدود او املا له مخې د یادونې وړ ستونزې نه لري، د کتابت او مسودې د بیا کتنې په برخه کې ښاغلي اسلم تاثیر اپریدي ډېر کار کړی، د ځینو شعرونو په پای کې د لیکلو د وخت نېټه هم راغلې ده.

ښايي دا د مدون د تدوین او ترتیب لومړۍ تجربه وي؛ ځکه یې ښکاره د تدوین له کوم ځانګړي میتوده کار نه دی اخیستی، ده له اصلي نسخې پرته له خپلو ځانګړو یادښتونو او ځینو شعرونو په اړه یې د نورو لیکوالو او شاعرانو نظرونه هم اخیستي دي، نو ویلی شم چې نوموړي له نورو تدوین شوو اثارو په الهام د څېړنې له دودیز مېتوده کار اخیستی دی، خو د ده ترسره کړي کار ته په کتو څرګندېږي چې د دغه متن په تدوین کې یې په دقت او امانت ساتنه کې تر خپل وس پورې هڅه کړې ده. هیله ده په راتلونکي کې هغه ځینې نیګړتیاوې چې خپله مدون هم پرې اعتراف کړی، تصحیح شي.

پای

د کاکل په خطا بند د مخ کتاب کړه
ما خاطر په تا سپارلی زه به مـر یم /**پای**

## غوره وېناوال او باکماله شاعر...

باکماله شاعر د چهارباغ په مقدمه کې داسې مطالبو ته هم ځای ورکړی دی:« په عربي او براهوي ژبو ځینې د پند او نصحیت بیتونه او شعرونه هم ویل شوي دي. «ورپسې ملاعبدالحکیم مشواڼی د یاد اثر په سریزه کې داسې لیکي: »هیله او امید لرم، چې وینا به مې رنځ نه خپروي؛ بلکې د درد دوا به وي، ځکه پرې د چهارباغ نوم کېښوول شو، چې د لیدونکو او سپلګرو د زړونو مړاوې غوټۍ پرې ګل شي او د ژوند چارې یې په اسانۍ ترسره شي، همدارنګه یو څو اوږدلې نکلونه هم پکې شامل شوي، چې د زړه وړونکو نکلونو (نقلیات دلپذیر) په نامه یاد دي. زه عاجز بنده یم، د حروفو د یوځای کېدو له خطا هم لړزېږم، ښايي د ښو اخلاقو په ټوکر کې د بنده ټول عیبونه او نیمګړتیاوې پټې شي او په حقیقت کې به وستايي، چې: »فوق کل ذی علم علیم.« بیت دی:

**بدو را گواگر یابی خطایی**
**نیارد بر سرمن ماجرایی**

اړینه برېښي، چې ووایو: د چهارباغ د چاپ په عکسي- نسخه کې (چهارباغ) دوه ځلې ثبت شوی دی. له بده مرغه ښاغلي ډاکټر عبدالرزاق صابر د کتاب اصلي نوم ته بدلون ورکړی او »چهارباغ «یې د براهوي ژبې د تلفظ له مخې په »چارباغ « اړولی دی، چې دا مناسبه چاره نه ده. هو! د څلورو ژبو شاعر په پښتو او پارسي غزلونو کې عشقي موضوعات راوړي دي؛ مګر په عربي او په تېره بیا براهوي شعرونو کې یې د پند او نصیحت، دیني مسایل او اخلاقي موضوعات په شعري ژبه وړاندې کړي دي. رښتیا هم ملاعبدالحکیم مشواڼی اوچار او غوره شاعر و او په عربي، پښتو، پارسي او براهوي شعر کې لاسبری او د پوره قدرت خاوند و؛ البته پښتو او پارسي شعرونه یې ډېره ادبي او هنري ښکلا لري. په عربي او براهوي وینا کې هم تر ډېره مخکښ دی. شعرونه یې روان، ساده، جالب او له ارزښتناکو موضوعاتو مالامال دي. ملاعبدالحکیم مشواڼی د عربي او براهوي شعرونو په مسایلو پوه و او د دغو ژبو د شعري مسایلو له رګ رګ خبر و، ځکه یې په ډېرې اسانۍ او روانۍ ټول عربي او براهوي شعرونه پارسي ته هم اړولي دي، البته په چهارباغ کې یې ناژباړلي پښتو او پارسي شعرونه راغلي دي. د عربي او براهوي شعرونو له ژباړې یې څرګندېږي، چې دې شاعر له پارسي ژبې سره پوره اشنایي او برلاسي لرله. نوموړي نه یوازې د استاد ابوالقاسم فردوسي په ژبې شاعري کوله، بلکې دا وړتیا یې هم درلوده، چې په دغه لرغونې ژبه خوږ نثر هم ولیکي. موږ باید په پوره ځېرنې ژوره څېړنه وکړو، چې د داسې باکماله او هنرپاله شاعر ورک شوي منظوم او منثور آثار راپیدا کړو او د علم او ادب دنیا ته یې وروپېژنو. ملاعبدالحکیم مشواڼي معمولاً په خپلو شعرونو کې ځان ته د «عبدالحکیم»، «حکیم» او «طالب» تخلصونه ډېر کارولي دي. په چهارباغ کې یې په پورته یادو ژبو دېرش، دېرش غزلې او بیتونه راوړي دي او له هرې ژبې سره یې پوره انصاف او عدالت کړی دی. مشواڼي د چهارباغ د بشپړولو په اړه په یو براهوي بیت کې داسې وايي:

**همو وخت اس که دابنده کری اهتمام نظماتا**
**هزار و سه صدو نوزده یک مریک سالان هجرانی**

مطلب دا، هغه وخت چې مې دا نظمونه پیلول، ۱۳۱۹هـ کال و.په خپله ملا عبدالحکیم مشواڼی، چې د چهارباغ خطاط دی، د خپل ترتیب شوي دیوان په پای کې داسې لیکي: »اللهم اجعل آخر کلامنا لا اله الا الله محمد رسول الله، پاک او سپېځلی چهارباغ د ۱۳۲۴هـ کال د صفر المظفر میاشتې په جمعې مبارکې ورځ کې په خیر تمام شو.«

**د ملا عبدالحکیم مشواڼي ژوند او زمانه:** که څه هم موږ د ملاعبدالحکیم مشواڼي په اړه کره او پوره معلوماتو ته لاسرسی نه لرو؛ خو دا خبره باوري ده، چې ده نامتو شاعر د امیرحبیب الله خان (۱۹۰۱ ـ ۱۹۱۹م) د واکمنۍ په مهال ژوند کاوه. یا په بله وینا، ملاعبدالحکیم مشواڼی د افغانستان د ګران او اروابناد پاچا امیرحبیب الله خان همعصره و. داچې دې خوږ ژبي شاعر د ښارونو ناوې کندهار او شاوخوا سیمو څخه شعري تجربې ترلاسه کړې وې او په کندهار، هلمند او نورو سیمو کې یې د شعر د شهرت غونچې خپرې شوې وې او د کمال او جمال اوج ته رسېدلی وي. همدارنګه دا باکماله شاعر د خپل دېوان »چهارباغ «په پای کې د وخت پاچا امیرحبیب الله خان بن عبدالرحمان خان مدح او ستاینه د شعریت او خوږلت په قالبي الفاظو کې بیانوي، چې دلته یې یوازې مطلع بیت ته تمبږو.

**آن خسرو عالیمقام و آن شاه والاتر مکان**
**و آن پیرو خیرالانام و آن حاکم زمان**

هو! د چهارباغ اصلي نُسخه په محمد خېلو (پنجپایي) کلي کې د شاعر د کورنۍ له نږدې خپلوان ملا محب الله سره په خپل کتابتون کې خوندي ده. خو په دې برخه کې د پروفیسور دکتور عبدالرزاق له هڅو او زیار هم سترګې نه شي پټېدای، چې په ډېر کړاو یې چهارباغ له عکسي- نسخې څخه د براهوي ادبي سوسایټي ـ کوېټې له خوا په ۲۰۰۲ میلادي کې د چاپ په ګاڼه وپسوله او خپور شو. زه له ښاغلي ډاکټر صاحب او د یادې مؤسسې له ټولو غړو او همکارانو د زړه له تله مننه کوم، چې د ملا عبدالحکیم مشواڼي د «چهارباغ» نوم او نښان یې د عربي، پښتو، پارسي او براهوي ادبیاتو په تاریخ کې ژوندی کړ. د ځوانو څېړونکو او هڅاندو لیکوالو پر هڅو او هاندونو دې آفرین وي.د چهارباغ له سریزې څرګنده ده، چې ملا عبدالحکیم مشواڼی په پښتو او پارسي کې د »نقلیات دلپزیر «په نامه یو بل اثر هم لیکلی دی، چې ناچاپ دی او کیسې او داستانونه لري. ښاغلي دکتور صابر دغه اثر لیدلی او تر ډېره یې مطالعه کړی هم دی، نو ځکه د چهارباغ عکسي- نسخې د سریزې په نولسم مخ کې په اردو ژبه داسې لیکي: « د شاعر یو بل اثر «نقلیات دلپذیر» نومېږي، چې د پښتو او پارسي له څو اوږدو کیسو او داستانو څخه رغېدلی دی. د دې اثر ترتیب او تدوین هم کابو دی، چې د یو ځانګړي اثر په بڼه چاپ شي. «ښاغلیه داکتر صابره! وګورئ! »نقلیات دلپذیر «به څوک چاپ کړي؟

په پای کې د اروابناد ملا عبدالحکیم مشواڼي له چهارباغ څخه د پښتو، عربي او براهوي ژبو یو څو غزلیز بیتونه د ادبي تندې د خړوب په پار رااخلو، چې لوستوال او مینه وال د دغو لرغونو ژبو له شعري ځانګړنو سره اشنا شي:

**پښتو**

مبتلا یم ستا د زلفو په طناب
همېشه نارې وهم لکه رباب
ستا د غم غشی مې کښېنست پر زړه باندې
اوس د کښو کابو یې نسته ای مهتاب
په یوه کاته دې روغ سړی رنځور کړ
د مریض عیادت وکه په شتاب
له کتابه در وایم ای صنمه!
د مریض پوښتنه ډېر لري ثواب
نور داغونه مې ایرې پر زړګي ولې
پر سینه مې چړې وهې لکه قصاب
له رقیب سره خندان خوشحاله ګرزې
زما خوار زړګی دننه شو کباب
باري خدای چې زه پر تا باندې مین کړم
بیا نصیب یې زما نه کړ اقتراب
د دوزخ وار یې دلې کړه پر ما تېره
چې یې وسوم د فراق په التهاب
خوار »حکیم «په طالبي کې ولید غم
خپل مطلوب دیدن به غواړي له وهاب

**عربي**

الفت فی دارالفنا اعقبت لدار البقا
کیف یکون حالک لا تنس قصراً شامخا
لاتهتدی الّا اذا یهدیک رب العلمین
أحب ان یهدی لک لاتنس قصراً شامخا
خلق لک الحور الخدم و الجنّة مع النعم
لتصلح اعمالک لاتنس قصراً شامخا
اشجار هامن فضّة قطوفها دانیّة
اهلی لک اشهی لک لا تنس قصراً شامخا
مائها احلی من عسل للحور شعر القر نفل
اعدّها مولی لک لاتنس قصراً شامخا
تصیر فی دار البقا جرد و مرد یا اخی
یبدل تمثالک لاتنس قصراً شامخا
ستذکر وعظ»الحکیم «یوماً یکون فی الرّمیم
بالحسرة ارسالک لاتنس قصراً شامخا

**براهوي**

شیطان لعین نا امری دننگ نمُا رواج ءِ
امری تینا خدانا هلنگ نما رواج ءِ
مجلس تِی که تو لیس غیبتی پین نا کیسه
تینا ایلم نا سُوتی کننگ نما رواج ءِ
هیچ وختتی مسیتائی هر فیری گامی تینا
دُزی، زنا فسادی هننگ نما رواج ءِ
ملا ناهیت و پند آن نریسه بی قرارس
سرنا و دهول ساز تولنگ نما رواج ءِ
هیتس که خیر نائی پیشن کپیری باغان
چغلی، دروغ وغیبت کننگ نما رواج ءِ
پین وخت پنی خدانا یاد اف نمُی که پاری
هر دم قسم خدانا هر فنگ نما رواج ءِ
خوار و غریب نا سُوتی هر دم ترِس کنیسه
ظالم ناغور و سیلاسِلنگ نما رواج ءِ
دنیا نا کاروبارن »عبدالحکیم «خلاص ءِ
شعر و غزل نمُکن پانِنگ نما رواج ءِ


مأخذونه

۱. چهارباغ، شاعر: ملا عبدالحکیم مشواني، ناشر: براهوي سوسایټي، تحقیق و تدوین: دکتر عبدالرزاق صابر، تاریخ انتشار: مارس ۲۰۰۲م، چاپخانه: یونایټد پرنټرز، کویټه.
۲. زرین انځور، تألیف: پروفیسور سیال کاکړ، ناشر: پښتو فولکلور اکاډمي، سال انتشار: ۲۰۰۹، چاپخانه: یونایټد پرنټرز، کویټه.



څېړنوال شهزاده توحیدمل


## د لیکوالۍ هنر، اثر ته لنډه کتنه

«د لیکوالۍ هنر» د څېړنپوه دکتور سیدمحی الدین هاشمي په لاس لیکلی اثر دی، د نوموړي دغه اثر د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ۱۴۰۱ ل کال د آثارو په ارزونه کې د یاد وزارت له لوري لومړۍ درجه جایزه هم ګټلې، چې یاد اثر د پښتو ژبې او ادبیاتو په چوکاټ کې د لوړو او پوهنتوني زدکړو له پاره د لیکوال په نوښت د یو اړین مضمون په بڼه کابو دېرش کاله پخوا د درسي لیکچر نوټونو په بڼه د لیکوال د پخو تجربو په مرسته را ټوکېدلی، ابتدا د یوې بېړنۍ اړتیا پر بنسټ د (لیکوالۍ فن) ترسرلیک لاندې په ۱۳۷۲ ل کال کې خپور شوی او بیا وروسته د مینه والو د زیاتې غوښتنې پر مټ د بیا کتنې او اضافاتو سره بډایه کړای شوی او د (لیکوالۍ فن) ترسرلیک لاندې د دویم ځل له پاره په ۱۳۹۵ ل کال خپور شوی دی.ویل کېږي چې دا مهال په بازار کې د دغو دواړو چاپونو چاپي نسخې کم یابه شوې او بیا ځلې چاپ ته یې د مینه والو تمه (طمع) را تخنېدلې ده. دغه کتاب په خپل ډول کې د پخوانیو ورته لیکنو په نسبت زیاد نوی برېښي ځکه د جامعیت د عنوانونو د رنګارنګۍ او دغه راز په ښکلې روانه، جذابه او سلیسه ژبه د کښنې له مخې سابقه نه لري.

دغه کتاب په یوولسو څپرکو کې چې د پښتو ژبې او ادب بېلابېلې برخې را نغاړي تر هر څه وړاندې لیکوالو ته د معیاري لیکنو سپارښتنه کوي چې ادبي لیکدود یې هم بولي. لیکوال په دې اند دی چې هره ژبه او په دې ترڅ کې پښتو ژبه د زیاتو بېلابېلو لهجو درلودونکې ده نو که چېرې هر لیکوال په خپله لهجه لیکنې باب کړي کېدای شي چې په ټول هېواد کې د بېلابېلو لهجو د کارېدنې موضوع پر تولید شویو آثارو باندې د پوهېدنې مسأله ستونزمنه کړي.د همدې مسئلې په پام کې نیولو سره د »لیکوالۍ هنر «د بېلابېلو لهجو د لیکوالو سره د مرستې په مقصد د لرو او برو پښتنو پوهانو او ادیبانو د هغو دریو بېلابېلو غونډو عملي نتایج په خپلو پاڼو کې ځای کړې دي چې د معیاري لیکدود په پیاده کولو کې ډېر ګټور دي. په دې سربېره لیکوال په دې کتاب کې د یوې معیاري لیکنې د مفهوم په روښانه لېږد کې هغه لیک نښې هم خوندي کړې دي چې ډېرې اړینې دي او هر لیکوال ته بویه چې په خپلو لیکنو کې ګټه ترې واخلي.

د دغه کتاب ټول بحثونه چې عمدتاً د ساده او هنري - ادبي نثرونو په باب دي یا د دغو نثرونو په شپول کې د طنز لیکنې، ادبي کره کتنې، ادبي څېړنې، ژباړې او آن د ژونالیستي لیکنو پر شاوخوا را څرخېدلي، نه یوازې په خپلو ځانګړو اصولو او معیارونو کې په لنډو او مدللو ټکو کې شرح شوي، بلکې د هغو بېلابېل ډولونه په ځینو خوندورو مشالونو کې هم توضیح کوي. چې لوستل او په لیکنو کې یې مراعاتول، یو اړین کار دی او د هر لیکوال د لیکنو د ښکلا او جذبیت پانګه زیاتولی شي. په دې بهیر کې د بېلابېلو شخصي، اداري مکاتیبو، عرایضو او ادبي لیکنو د څرنګوالي او ځانګړو اصولو بیان او له دې سره د مطبوعاتو او ژورنالیزم په ډګر کې د کارکونکو له پاره غوره، مناسبې او خوندورې سپارښتنې او آن ددې ساحې د کاري بابونو په تېره بیا د خبر، راپور، راپورتاژ او مرکې په اړوند د ډېرو اساسي او اړینو موادو راوړل د مینه والو له پاره د دې کتاب د لرلو اړتیا نوره هم زیاتوي.

په ټولیز ډول ویلای شو چې د «لیکوالۍ هنر»اثر د پښتو ژبې او ادب په ساحه کې د یو غوره تحقیقي اثر په توګه، نه یوازې د مبتدي لیکوالو لپاره د یو ښه او ګټور لارښود حیثیت غوره کوي، بلکې د ټولو هغو لیکوالو له پاره هم ګټور دی چې د ښو ادبي لیکنو غوښتنه کوي. /د مقالې پای

# زېری

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي- څېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

د ۱۴۰۱ ل.کال، د چنګاښ میاشتې ۷- ۸ مه ګڼه | پرله پسې ۳۹۹- ۴۰۰ مه ګڼه

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز څېړنیز ارګان

مسئول مدیر: څېړندوی لطف الله صابر

مهتممه: بي بي شفیقه نوري

کتنپلاوی: څېړنپوه دوکتور سید محي الدین هاشمي، څېړنوال رحیم الله حریفال، څېړندوی لطف الله صابر، څېړندوی احسان الحق کبیر، څېړندوی مطیع الله ساحل

د اړیکي شمېره: (+۹۳)۷۷۷۴۲۴۳۴۰

برېښنالیک: zerai۱۳۱٦@gmail.com

● په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په لیکوالو پورې اړه لري.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

د یوې ګڼې بیه: پنځه افغانۍ


څېړنوال محمد آصف احمدزی

## د فرهنګي او ادبي خبرونو پېښلیک

### افغان ماشومانو ته په پښتو او دري ژبو د کیسو کتابونه چاپ شوي

په امریکا کې د لوست خونې په نوم مؤسسې په پښتو او دري ژبه افغان ماشومانو ته د کیسو دولس ټوکه تصویري کتابونه چاپ کړي دي.

دا کتابونه چې په اصل کې د سوریې په کمپونو کې د اردني ماشومانو لپاره د اردني، مصري، فلسطیني او امریکایي لیکوالو له خوا لیکل شوي، اوس د امریکا په کمپونو کې افغان ماشومانو ته د دوی په رسمي ژبو ژباړل شوي او چاپ شوي دي.

د دغو کتابونو ژباړونکي او عمومي ایډیټر لیکوال محب الرحمن محب وایي، دا کتابونه په عربي ژبه و او د یادې مؤسسې له خوا افغان ژباړونکو ته د اسانتیا برابرولو لپاره انګرېزي ژبې ته اړول شوي وو.

دی زیاتوي: "د دې کتابونو ژبه معیاري او د ماشومانو سني کټګوریو ته په پام سره په معیاري ډول سویه بندي شوي دي. د کتابونو نقاشي او ډیزاین هم په خورا ښه کیفیت سره شوی دی، د کیسو نوعیت روایتي او پیغامونه په هنري ډول وړاندې کوي، چې په ماشوم ادبیاتو او ژباړه کې ښه زیاتونه حسابېدای شي".

د نومړي په خبره، په دې کتابونو کې څلور ټوکه (ښه شپه موږې، له ماسره لوبې وکړه، زما ګورګوټي وېښتان ، زما کور) ده پښتو ته ژباړلي دي؛ (د عمر په زړه کې دوه کوره، رنګینې غونډۍ، نقاش، کله چې زه خوشحاله یم) ماریا محب او (د مینې الوتکه، د توران توپ، لولو، د درېوو هیلو کیسه) اختر زمان ژباړلي دي.

محب وایي، دغه کتابونه هر یو ۵۱ زره ټوکه چاپ شوي او ډېر ژر به د امریکا په کمپونو کې پر افغان ماشومانو ووېشل شي.

د دغو کتابونو بله ژباړونکې ماریا محب د دغو کتابونو د محتوا په اړه وایي: "د یادو کتابونو د منځپانګې په اړه باید ووایم چې عاطفي او ټولنیز موضوعات دي. باوري یم چې له دې لارې به افغان ماشومان د خپلو رواني ستونزو د کابو کولو چل او له نوي ماحول سره به جوړ جاړی زده کړي او له بله پلوه به دا کتابونه افغان ماشومانو سره په مورنۍ ژبه د لیک، لوست زده کړې او تقویې په برخه کې هم مرسته وکړي".

### د ماشومانو لپاره ۱۱ کتابونه چاپ شول

د افغانستان د ماشوم ادبیاتو ملي بنسټ وایي چې د دغه بنسټ له خوا یوولس کتابونه له چاپه راوتلي دي.

سرچینې په خپلې فېسبوک پاڼه کښلي چې په دې کتابونو کې پنځه کیسې دي چې په دري او پښتو ژبه لیکل شوي او یو په کې د ماشوم ادبیاتو لیکلارښود کتاب دی.

د کتابونو نومونه او لیکوالان یې دا دي:

۱- رنګین کمان: محمد یعقوب مومند ا نصیر احمد امرخېل.
۲- بلبل او د رڼا چینجی: سهیلا رها او عفیفه فضلي
۳- اهوی کوچک: فرزانه شریف او عابده دودیال
۴- شنه زرغونه: محمد یعقوب مومند او نصیر احمد امرخېل
۵- ارزوی پرواز: محمد عارف عارفي، میرویس او عبدالرحیم صافی
٦- ځنځیر اوبدونکی بابا: حمیده اعظمي او ناجیه رحیمي
۷- بلبل و کرمک شب تاب: سهیلا رها او عفیفه فضلي
۸- د الوتلو هیله: محمد عارف عارفي، میرویس او عبدالرحیم صافی
۹- بابه زنجیر باف: حمیده اعظمي او ناجیه رحیمي
۱۰- وړه هوسۍ: فرزانه شریف او عابده دودیال
۱۱- د ماشوم ادبیاتو لیکلار ښود

لیکوال محب الرحمن محب په دې اړه په خپله تبصره کې لیکلي: »تازه مې له تکړه لیکوالې او د ماشوم ادبیاتو د ملي بنسټ له مشرې اغلې نعیمې غني څخه زېری ترلاسه کړ چې د ماشومانو د کیسو پښتو پنځه عنوانه کتابونه او د ماشوم ادبیاتو لیکلارښود په کابل کې له چاپه راوتلي دي. دا کتابونه مو په ۲۰۱٦م کال د پوهنې وزارت د بېلابېلو ډیپارټمنټونو کارکوونکو ته د یوه روزنیز ورکشاپ په لړ کې تولید کړل او د یو شمېر سیمو پر ماشومانو د دې لپاره وازمایل شول چې له ژبې او سویه بندۍ څخه یې ډاډ ترلاسه شي. دا کتابونه د پوهنې وزارت د یو شمېر کارکوونکو له خوا لیکل شوي او ما پښتو او دري ته ژباړلي دي چې اوس د ماشوم ادبیاتو د ملي بنسټ په لګښت او زیار له چاپه راوتلي دي.«دی وایي، کوم کتابونه چې د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب پښتو کارکوونکو په پښتو لیکلي، هغه یې دري ته او کوم چې دري ژبو لیکوالو لیکلي، هغه یې پښتو ته ژباړلي دي.

### د افغان ادبي بهیر د بیا پیل لومړۍ ناسته

له اوږد ځنډ وروسته افغان ادبي بهیر بیا پر فعالیت پیل وکړ. بهیر، لومړۍ ناسته د ۱۴۰۱هـ. ش د چنګاښ په لسمه د ګهیځ د لیکوالو او ژورنالیستانو ټولنې دفتر کې وکړه.

یادې غونډې دوې برخې درلودې. په لومړۍ برخه کې مېلمنو ویناوې واورولې او دوهمه هغه کې مشاعره وشوه.

څېړنوال رحیم الله حریفال، محمد اصف وردګ د لومړۍ وینا کولو لپاره راوغوښتل شول. وردګ د ادبیاتو، کلتور او ادبي حلقو پر رسالت وغږېد. همدارنګه نومړي د ځوانانو پر یووالي او د غونډو پر پایښت خبرې وکړې. هغه ځوانان ملي یووالي او هېواد جوړونې ته راوبلل. همداراز یې له بهیر سره د هر ډول مرستو ژمنه وکړه.د غونډې دوهم ویناوال دقیق لیکوال او څېړونکی محمد اصف صمیم و. هغه د افغان ادبي بهیر په شالید وینا وکړه.

ده وویل: "د افغان ادبي بهیر بنسټ پر ۱۳۷۳یم کال د تلې پر یوولسمې په پېښور کې کېښودل شو. هغه وخت افغان ادبي بهیر د افعان شاعرانو او ادیبانو د راغونډېدو یواځینی مشخص ادرس و".

د هغه وینا ده چې افغان ادبي بهیر ډېرې لوړې ژورې تر شا پرېښې او همدا تاسې ځوانان به دا مزل تر منزله رسوئ.

نومړي زیاته کړه چې بهیر د یوه پوهنتون هومره ارزښت لري ځکه دې جونګړې په سلګونو ځوانان ستر، زړور او ژبور کړل.

ګډونوالو د بهیر پر کیفیت، لا تاندېدو او دوام خپلو کې تره وکړه او له نورو یې هم د ګډون هیله درلوده. رضوان اوبرنګ ژمنه وکړه چې بلې غونډې ته به خپل غزل کره کتنې ته وړاندې کوي.

### خوست کې د یوه فولکلوریست نمانځغونډه

که څه هم د وروستیو تحولاتو له کبله د خوست په ګډون په خو نورو ولایتونو کې د مطالعې او کتاب لوستنې دود یو څه کمرنګه شوی، خو یو شمېر ځوانان او فرهنګي ټولنې د دغو برخو د بېرته غوړېدو او ښه کېدو لپاره هلې ځلې کوي.

د همدې فرهنګي فعالیتونو په لړ کې تازه (د چنګاښ ۱۳مه) د خوست په اطلاعاتو او کلتور ریاست کې د سیمې د یو تن فولکلوریست او لیکوال عبدالکریم پتنګ په نوم نمانځغونډه جوړه شوې وه او ترڅنګ یې د نومړي د درېیو کتابونو مخکتنه هم وشوه.

نوموتي شاعر او لیکوال پیر محمد کاروان د عبدالکریم پتنګ په علمي او فرهنګي برخو کې د فعالیتونو د ستاینې ترڅنګ وویل چې هغه په خپلو کتابونو کې په ټولنه کې شته ناخوالې انځور کړې او د دې ترڅنګ یې په ټولنیزو او فرهنګي مسایلو کې روښانه معلومات وړاندې کړي دي.

دی زیاتوي: «د پتنګ دا درې کتابونه ټولنیزه بڼه لري، د لیکوال په لیکنو کې دیني مقدساتو ته درناوی او د ښو ټولنیزو اخلاقو او ارزښتونو د پاللو لپاره مناسبې کلمې راوړل شوې دي.«

د لیکوال درې نوې چاپ شوي کتابونه چې انسان د ساینس او قران له نظره، د ټولنیز حقیقت راز او قیمتي ګوهر نومېږي؛ لیکوالانو پرې خبرې وکړې او په علمي برخه کې یې دا لویه لاسته راوړنه وبلله.

عبدالکریم پتنګ تردې دمه په علمي، کلتوري، ټولنیزو او فولکلور برخو کې ۱۹ اثار لیکلي او چاپ کړي دي.

په ورته وخت کې د خوست د اطلاعاتو او کلتور رئیس شبیر احمد عثماني وایي، هغه چا چې د علم په برخه کې ټولنې ته کار کړی دی، باید وستایل شي او زیاته یې کړه چې په دې برخه کې له لیکوالانو سره همکاري کوي، وایي: «هغه خلک چې د علم او فرهنګ په برخه کې یې خدمتونه کړي دي، باید وستایل شي او نوی نسل په دې روحیه وروزو،ترڅو د ټولنې لپاره د علم او فرهنګ په برخه کې کار وکړي.«

د خلکو په باور، که چېرې دا ډول فرهنګي او ادبي ناستې چې په کې د لیکوالانو ستاینه او ترڅنګ یې د کتابونه مخکتنه کېږي، ډېرې شي، په دې سره به نه یواځې لیکوالان لا ډېر کار ته وهڅېږي، بلکې په سیمه کې به ځوانانو ته هم په علمي او فرهنګي برخوکې یو سم لید لوری ورکړل شي.

### رڼا مشاعره وشوه

رڼا کلنۍ مشاعره د مېرمن - کلتوري ټولنیز بهیر او د خوشحال بابا فکري بهیر په هڅو په کابل کې د سلګونو افغان مېرمنو شاعرانو او لیکوالو په ګډون جوړه شوه. دغه مشاعره د چنګاښ په ۱۷مه د وړمې سحر له خوا د قرآن کریم د څو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

### د پښتو ژبې او ادب د یوه خدمتګار پوهاند یوولسم تلین

یوولس کاله وړاندې (۱۳۹۰هـ. ش) د چنګاښ په ۲۱مه د پښتو ژبې او ادب یوه خدمتګار پوهاند ډاکټر زېورالدین زېور له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

۷۴ کلن ارواښاد پوهاند زېور په ۱۳۱٦هـ. ش کال د ننګرهار د کوټ ولسوالۍ په "ډوانو" کې نړۍ ته سترګې پرانیستې وې. ابتدایي زده کړې یې په خپله سیمه کې وکړې او بیا یې د کابل عالي دارالمعلمین ولوست، وروسته د کابل پوهنتون له ژبو او ادبیاتو پوهنځي فارغ او د مسکو په دولتي پوهنتون کې یې ماسټري او »پي، ایچ، ډي «واخیسته. ډاکټر زېورالدین زېور د ډېر وخت لپاره په کابل، ننګرهار او په هندوستان کې د جواهر لعل نهرو پوهنتونونو د استاد په توګه دنده درلوده او په کابل پوهنتون کې سره له دې چې د ورپېښې شوې سرطان ناروغۍ څخه کړېده، د پښتو ژبې د ماسټرۍ دورې د ادب تاریخ استاد و.

استاد زېور د دې ترڅنګ چې په تدریسي چارو بوخت و، د پښتو ادبیاتو د تاریخ په برخه کې یې زیات شمېر کتابونه او علمي مقالې لیکلي چې تراوسه پورې د ده ۱۸ عنوانه تألیفات چاپ شوي او څو ناچاپ آثار هم لري.

### د زرین ادبی بهیر د څلورمې اونیزې غونډې راپور

ځای: کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه

نېټه: ۱٤۰۱ هـ. ش؛ د چنګاښ ۲۷مه

د زرین ادبي بهیر په یادې شوې غونډه کې د پښتو څانګې استادانو، محصلینو او د ادب مینه والو ګډون کړی و. غونډه د وړمې سحر له لوري د قران کریم د مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه.

دې غونډې درې برخې لرلې:لومړۍ د تېرې غونډې راپور.

د غونډې په دوهمه برخه کې د (بېوسي) تر سرلیک لاندې پر نظم کره کتنه وشوه. د نظم پر بېلابېلو اړخونو باندې هر اړخیزه کره کتنه وشوه او مختلف نظرونه وړاندې شول.

وروسته د بهیر دا غونډه د استاد عبدالسمیع وحدت له خوا و ارزول شوه. ده غونډه مثبته وارزوله او د راتلونکو غونډو د تنظیم لپاره یې خپل نظریات له ګډونوالو سره شریک کړل.

### «د خوشال بابا فکري بهیر» او د نصیر احمد احمدي لومړی تلین

«د خوشال بابا فکري بهیر» کابل کې د پنجشنبې ورځې د زمري د ۳۰مې نېټې غونډه د پښتو ژبې د داستاني ادب د مخکښ ستوري ارواښاد نصیر احمد احمدي یاد ته ځانګړې کړې ده چې د ملکوتي ارتحال لومړی تلین یې و.

په دې غونډه کې د نومړي پر پنځونو، اند، ژوند او شخصیت د هېواد د تکړه لیکوالو او څېړونکو لکه استاد محمد اصف صمیم، ډاکټر نورالحبیب نثار، نقیب احمد عزیزي، نوراجان بهیر، مینا نظري او څو تنو نورو له خوا بحثونه وشول. په پای کې د غونډې ارزونه الیاس وحدت وکړله.

احمدي له نن یو کال وړاندې د چنګاښ میاشتې په ۱۹مه نېټه د ۴۷ کلونو په عمر د کرونا له کبله مړ شو.

هغه په اوسني عصر کې د پښتو ژبې تکړه ناول لیکونکی بلل کېده چې د ناولونو په شمول له شلو ډېر کتابونه یې لیکلي وو.

بغدادي پیر، د غنې ځاله، پتان، بوډا او د لېوانو پلونه، جوجو، زرو، نیکه، اغزن سیم، یوه خبره درته وکم، رڼا، خونکار او څو نور د نومړي هغه کتابونه وو چې ګڼ شمېر لوستونکي لري.

د احمدي مړینه د داستاني ادبیاتو په برخه کې ستره ضایعه ګڼل کېږي.

### «افغان ادبي بهیر» او د احمدي لومړی تلین

افغان ادبي بهیر د چنګاښ پر وروستۍ ورځ (د ۱۴۰۱هـ. ش کال د چنګاښ ۳۱مه) د نصیراحمد احمدي د لومړي تلین په پار ځانګړې غونډه وکړه.

نقیب احمد عزیزي، جاوېد اوربل، امان الله هوسا او اجمل ښکلي ویناوې وکړې. فیصل ځلاند، عبدالرازق همدرد، یونس تنویر او رحیم الله حریفال خپلې لیکنې واورولې. محمد انور اندړ، بشیر احمد احمدي او رفیع الله رسولي د ارواښاد احمدي له همنشینۍ خاطرې وویلې.

غونډه ګلبهار بهار په تلاوت پیل کړه. ذبیح الله بیان؛ اجمل ښکلی، امان الله هوسا د غونډې مشران او بشیر احمد احمدي، محمد انور اندړ او رفیع الله رسولي یې د غونډې مېلمانه اعلان کړل.

محمد اتل انګار د وارث بریمن په لاس، د احمدي لیکل شوی ژوند لیک وړاندې کړ. د ژوند لیک یوه برخه یې داسې وه: "نصیراحمد احمدي دوډیزې زده کړې له جوماته پیل کړې. غریبۍ او جګړو تر پېښوره او ایرانه ورساوه. وروسته یې لیکل پیل کړل. د دوو ژباړلو اثارو، یو ګډ تألیفي اثر، پنځو بایوګرافیو او د درې لنډو کیسو ټولګو په ګډون یې پنځلس ناولونه ولیکل. ارواښاد احمدي پوره اتلس کاله د بي بي سي د تعلیمي خپرونو پروډیوسر او ایډېټر و. نومړی په (۱۳۵۳هـ. ش) په قره باغ کې وزېږېد او په ۴۷ کلنۍ کې ومړ".

د لیکنو په برخه کې لومړی فیصل خلاند راغی او د (ناول ستوري) په نامه مقاله یې وړاندې کړه. ورپسې عبدالرازق همدرد له احمدي سره د مینې پر اساس عاطفي لیکنه له ګډونوالو سره شریکه کړه. یونس تنویر بیا پر »نیکه «ناول لیکلې مقاله واوروله. نومړی د میرویس نیکه پر زعامت او د هغه وخت پر تاریخي پېر غږېدلی و. رحیم الله حریفال پر »جوجو «ناول وغږېد. نومړي په ناول کې طبیعوالی او تلوسه وستایله.

نقیب عزیزي د لومړي وینا کوونکي په توګه راوغوښتل شو. عزیزي وویل: "ناول تخیلي ژانر دی، نه اجتماعي نسخه." زیاته یې کړه، احمدي د تراژیدیو جالب لیکوال او مخیل ریالیست دی. / پای

## ژبپوهنیزه عصب پوهنه


لیکوالان: فیروزه اصغري او بهمن زندي
ژباړن: څېړندوی لطف الله صابر


### ۲. د ژبې او مغز د اړیکو په اړه له شپاړسمې - نولسمې پېړۍ څېړنیز بهیر

تر شپاړسمې میلادي پېړۍ پورې چې د ژبې او مغز په اړه کومې څېړنې ترسره شوې دي، د ترلاسه شویو پایلو له مخې یې همدومره ویلی شو چې همدا څېړنې په خپل ځای ارزښتمنې او په دې برخه کې د نورو څېړنو له پاره ستر ګام ګڼل کېږي؛ خو د ناسم انسجام او استحکام له مخې د نورو او راتلونکو څېړنو له پاره بنسټیز کار نه شي ګڼل کېدلی.

د ژبني اختلال په اړه کره او دقیق څېړنیز تصویر د رنسانس له وخته وړاندې شو، جراحي میتودونو او په مغز کې مداخله کولو شونتیا د مغز په اړه د پوهانو درک او برداشت لا پیاوړی کړ. په اوولسمه پېړۍ کې چې د ډېرو علمي رشتو د ودې او پرمختیا په برخه کې مشهوره پېړۍ ګڼل کېږي، پوهانو د علمي میتودونو، کره او عیني کتنو او مشاهدو پر مټ، د ژبني بندښت، ژبني اختلال او ژبنۍ ګډوډۍ (ناروغتیا) د درملنې په اړه چې د مغز د یوې خاصې برخې د زیانمنېدلو له امله رامنځته کېږي ګامونه پورته کړل.

خو بیا هم په دې پېړۍ کې لکه څرنګه چې لازمه وه د ژبنیو زیانمنتیاوو د حل په برخه کې کار نه دی شوی. په اتلسمه پېړۍ کې »لینه سنټ «رنځپوه هم د ژبني اختلال په برخه کې څېړنې ترسره کړې دي. (نیلي پور، ۱۳۸۲، له فینګر څخه نقل قول). همدا راز د اتلسمې پېړۍ په پیل کې د ژبې د اختلال د ډلبندۍ بنې په نښه شوې. هېره دې نه وي چې د دې پېړۍ په بهیر کې »مورګاني« Morgagni او »ګسنر« Gesnerد کلینیکي ژبپوهنې د ودې په برخه کې ستر رول لوبولی دی.

### ۳. د نولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د ژبنۍ عصب پوهنې د نظریو بنسټ اېښودنه

په تېرو پرله پسې کالونو کې چې د عصب پېژندنې په برخه کې ځینې غیر منظمې څېړنې ترسره کېدلې، د نولسمې میلادي پېړۍ په دویمه نیمایي کې یې علمي صبغه ترلاسه کړه او نوي ګامونه یې اوچت کړل چې په ترڅ کې یې د ژبپوهنیزې عصبپوهنې علم رامنځته کړ. په دې پېړۍ کې چې د ژبې اړوند ناروغیو د علل په اړه کوم تحقیقات ترسره شوي وو، څېړونکي یې د دې پوښتنې د ځواب په لټه کې شول چې د ځینو ناروغانو په مغز کې د یوې ضایعې په رامنځته کېدلو سره څرنګه ژبه اختلالي حالت غوره کوي او ناروغ ژبه هېروي او یا ژبنی بندښت پیدا کوي، سره له دې چې په ځینو نورو ناروغانو کې دا ډول ژبنی زیان او اختلال نه رامنځته کېږي. »بویو« Jean Baptiste (۱۷۹٦-۱۸۸۱) Bouillaudپه ۱۸۲۵ کال او مارک ډاکس Marc Dax په ۱۸۳٦ کال لومړني پوهان وو چې د انسان د مغز په دوه، نیمه کُرو تر منځ د کړنو به توپیرونو یې بحث کړی دی. ډاکس له څلوېښتو ډېرو ناروغانو باندې چې ژبنۍ ستونزې یې لرلې څېړنه ترسره کړه او د همدې څېړنې پر بنسټ یې اعلان وکړ چې ژبه د سر د چپ لوري نیمې کُرې په مرسته کنټرولېږي؛ خو دا چې نوم یې نه و مشخص شوی د نومړي دا ادعا په علمي ډګر کې و نه ځلېدله. د همدې پېړۍ په بهیر کې فلورانس فرانسوي عصبپوه لا هم په دې باور و چې مغز د یوه بشپړ سیستم په توګه عمل کوي.

پیاوړی کالبد پوه ګال (Gall) لومړنی شخص و چې د مغز د ایره رنګې او سپینې مادې تر منځ توپیرونه یې تشریح کړل او په ډاډ سره یې وویل: »د انسان ذهني ځواک د مغز په یوه ډېره خاصه او ځانګړې برخه کې ځای پر ځای شوی دی. «نومړي د فرنولوژي Phrenologyیا کوپړۍ پېژندنې فرضیه مطرح کړه، چې د مغز د کړنو پر بنسټ ولاړه ده. ګال پر همدې بنسټ هڅه وکړه چې د کوپړۍ پېژندنې د ګراف په وسیله د ذهني پدیدو لکه: هوش او نورې فردي ځانګړنې لکه اسراف، صمیمیت، مېرانه او داسې نورو ... ځای د انسان په مغز کې څرګند کړي (لوریا، ۱۳۷٦: ۱۹).

که څه هم د ګال نظریې د ډېر افراط له کبله د جدي پاملرنې وړ و نه ګرځېدلې، خو بیا هم هغه وتوانېد چې د خپلې فرضیې پر بنسټ چې د (منطقه بندۍ) مسئلې په نامه مشهوره ده یوه نوې فرضیه رامنځته کړي. د دې فرضیې د وړاندې کولو موخه د دې پوښتنې حل و چې د انسان د مغز هره ساحه د څه ډول ذهني چلندونو او فعالیتونو مسئوله ده؟ په دې سره پوهانو وپتیله چې د مغزي زیانونو پر مهال د بدلونونو مشاهده وکړي او د انسان د ذهني چلندونو او فعالیتونو له مخې د دماغو د طبقې عمل او کړنې تشخیص کړي.

په دې څېړنو سربېره، د فرانسې نامتو کالبد پوه پل بروکا (Paul Broca) په ۱۸٦۴ کال څرګنده کړه چې د وګړو ژبنۍ توان او وړتیا د مغز په کینه نیمه کُره کې موقعیت لري او کله چې څوک له دې برخې څخه زیانمن شي د تندې په دریمه برخه کې د پېچلي ځای ناستي په توګه د مغز په چپ لوري کې له جدي ستونزو سره مخ کېږي او د خبرو او وینا په تولید کې یې نیمګړتیاوې پېښېږي. له دې وروسته نومړي وپتیله چې یو څه کره څېړنې ترلاسه کړي او څرګنده کړي چې ویناییز اختلال چې نومړي لومړۍ »آفامي «او بیا یې »آفازي «نومولی دی، یوازې د را پېښې شوې ضایعې له مخې همدې ناحیې (د دماغ د چپ اړخ نیمه کُره) له ګواښ سره مخ کوي او همدا څرګندونې د دې لامل شوې چې همدا ناحیه د بروکا په نامه ونومول شي. (لوریا، ۱۳۷٦:۲۰).

الکساندر لوریا د بروکا د همدې موندنې په اړه لیکي: «د بروکا موندنې د دوه دلیلونو له مخې د ارزښت او اهمیت وړ دي.د همدې موندنو پر بنسټ له یوې خوا د مغز په ځانګړې طبقه کې د ذهن پېچلې کړنې وټاکل شوې او د »ګال «د کوپړۍ پېژندنې خیالي ګراف پر وړاندې داسې موندنې دي چې کلینیکي حیثیت لري، له بلې خوا د بروکا په دې موندنو سره د لومړي ځل له پاره د مغز د ښي او کین اړخ د کړنو توپیرونه بنسټیز شول او روښانه شوه چې کیڼ نیمه کُره لرونکي وګړي د ښي لوري نیمې کُرې لرونکو وګړو په نسبت ډېر مسلط دي او د عمل کولو له مخې یې وینا او خبرې کول عالي وي. لوریا، ۱۳۷٦: ۲۰ - ۲۲).

د بروکا د نویو نظریو او دې مفکورې په خپراوي سره چې د ټولو ذهني فعالیتونو له پاره یې د مغز ځانګړې ساحې وټاکلې؛ نور عصب پوهان او عصب پېژندونکي یې په خپل وار سره په دې لټه کې کړل چې د ذهني کړنچارو د سیستم ځای او محل وټاکي. دې څېړونکو د هغو ناروغانو وضعیت تر څېړنې لاندې ونیو چې په مغز پورې تړلي او مشخص ضایعات تشریح او د هغوی په کړنو او فعالیتونو کې چې کوم رواني اختلالات ښکاره کېدل تر څېړنې لاندې ونیسي. نور بیا